از نظر ما موافقه با اوربند در حقیقت به مثابه پذیرفتن روسها در افغانستان است .

طرح آشتی ملی از همان روز های اول با فضیحت و رسوائی همنوا بود ، زیرا در افغانستان جنگ داخلی وجود ندارد که با تفاهم و آشتی فریقین مسئله حل گردد .

درین جا جنگ بین روس و افغانها است چند تن دست نشانده گان خلقی و پرچمی عساکر بی اراده و مزدوری بیش نیستند ، که صلاحیت هیچ نوع تصمیم گیری را ندارند فرضاً اگر مصالحه و آشتی ! مطرح باشد با روسها باید صورت گیرد در حالیکه روسها نه هموطن ما اند و نه سوال مصالحه با آنها مطرح است !

همچنان که ارتش روس عملاً با ملت مظلوم افغانستان می جنگد تدویری به اصطلاح لویه جرگه و قانون اساسی اصلاً قابل قبول نبوده و در زیر ساتور روسها تنها تدویر جرگه ای ممکن است که روسها می خواهند ، و تنها قانونی به تصویب می رسد که به نفع روسها می باشد .

در وضعیتی که ارتش اشغالگر روسی در افغانستان موجود است ثلثی از نفوس کشور در مهاجرت به سر می برند و ۹۰ فیصد اراضی کشور نه تنها آزاد گردیده بلکه مستقیماً توسط مجاهدین اداره می شود و تمام امور مربوط به زنده گی مردم به شمول محاکم ، مدارس و شفاخانه ها توسط مجاهدین به پیش برده میشود براه انداختن تبلیغاتی بنام لویه جرگه و قانون اساسی تنها سبب افتضاح و رسوائی آنها خواهد بود . هکذا طرح پیشنهادی روسها برای تشکیل حکومت ائتلافی نما یانگر آخرین معیار رسوائی و بی حیائی روسها بوده است چگونه ممکن است تا ملت مؤمن ما با قاتلان خود که با همراهی تانک های روسی داخل افغانستان گردیده و در طی این جنگ طولانی ملت مظلوم ما را آواره و قتل عام نموده اند حکومت ائتلافی را تشکیل دهند !

خداوند ( ج ) و خون پاک شهدای عزیزما روسها را در ساحه بین المللی نیز رسوا وشرمنده ساختند علی الرغم تلاش های که بخاطر مغشوش ساختن اذهان عامه جهانیان اجرامی نمودند مگرهنوز که وجدان بشری بخواب نرفته است نسبت به همه سال های گذشته اکثریت قاطع مجمع عمومی سازمان ملل متحد در مقابل روسها رای دادند .

مذاکرات ژینو که جوانب اصلی قضیه درآن اشتراک ندارند قبلاً توسط مجاهدین بی نتیجه وضیاع تلقی شده اند . این مذاکرات بر خلاف منشور سازمان ملل متحد ومغایر با فیصله نامه ماه نومبر سال ۱۹۸۰ میلادی این سازمان در باره مسئله افغانستان به نفع روسها ادامه دارد تا زمانیکه مطابق خواست و آرمان مجاهدین مومن ما فیصله بعمل نیاید و حق تعین سر نوشت تنها به ملت مجاهد ما تفویض نگردد اینگونه کنفرانس ها و مجالس نمیتوان به نتایج مثبت و مطلوب برسند . تا اکنون برای خروج نیروهای روسی هیچگونه اقدام عملی به مشاهده نرسیده به نظر ما برای چنین اقدام گام نخست این خواهد بود تا روسها مستقیماً برای مذاکره با مجاهدین حاضر شوند . اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان که یگانه نماینده و ممثل ملت مجاهدافغانستان می باشد اعلام میدارد که حاضر است تا پیشنهاد روسها برای مذاکرات مستقیم با مجاهدین را تحت غور و بررسی دقیق خویش قرار دهند . مگر ما قاطعانه فیصله نموده ایم که جهاد مسلحانه ما تا هنگامی ادامه خواهد داشت که :

**۱ - روسها بدون قید و شرط و بطور فوری از افغانستان خارج شوند .**

**۲ - استقلال سیاسی افغانستان ، تمامیت ارضی و تمام**

حقوق مردم ما تامین گردد .

۳ - نظام اصیل اسلامی در افغانستان استقرار یابد .

۴ - مردم ما بدون فشار و تهدید خارجی حق تعین سر نوشت شانرا کسب کنند .

۵ - طوریکه مجاهدین افغانستان با تنهائی جنگ بزرگی را در برابر ابر قدرت روس پیروز مندانه ادامه می دهند ۹۰ فیصد اراضی کشور را آزاد ساخته و در آن هزاران مدارس شفاخانه ها و محاکم عدلی را فعال ساخته اند پیوست با خروج نیرو های روسی حکومت آینده افغانستان را نیز مجاهدین تشکیل دهند .

۶ - سانه تنها در خاک کشور ما با قوای روسی مخالفیم و در مقابل آن جهاد میکنیم بلکه هر نوع قوای بیگانه تحت هر عنوانی که داخل خاک ما می گردد تجاوز بر خاک خود می شماریم . ملت مومن ما توانائی این را دارد که پس از خروج قوای روسی خودامنیت کشور را تامین کنند . ما در حالیکه از کشور های همسایه مخصوصاً پاکستان کشور های اسلامی و تمام جهان صلحدوست که در داعیه بر حق به ما یاری رسانده ابراز تشکر می کنیم از تمام جهان بشریت ، مدافعین و پیروان راه حق می طلبیم تا درعموم ساحات مادی و معنوی با ملت مظلوم ما همکاری و تعاون نموده وفشار های سیاسی و اقتصادی خویش را بر روسها افزایش دهند تاهر چه زود تر وبدون قید وشرط قوای شانرا از افغانستان خارج سازند .

نصرمن الله و فتح قریب

# دافغانستان دمجاهدینو داسلامی اتحاد درئیس جناب مولوی یونس خالص مطبوعاتی کنفرانس

د افغانستان داسلامی حزب امیر جناب مولوی یونس خالص چه د مجاهدینو دیو هیأت په مشری چه په هغه کی دافغانستان دملی اسلامی محاذ رهبر جناب سید احمد گیلانی د افغانستان د نجات د ملی جبهی رهبر جناب صبغت الله مجددی او دنورو تنظیمونو نمایندگانو برخه درلوده دملگرو ملتونو په عمو می غونډه کی د برخی اخیستلو او دامر یکی دمتحده ایالاتو دجمهور رئیس دلیدلو او کتلو وروسته بیرته د دسمبر په ۵ نیته پیښور ته راستون او د اتحاد په مرکزی دفتر کی یی یو مطبوعاتی کنفرانس ترتیب کړ د افغانی او نورو خارجی ژور نالستانو پوښتنو ته یی ځوابونه ورکړل چه په لاندی ډول ئی خپلو گرانو لوستونکو ته وراندی کوو :

بناغلی مولوی صاحب خالص د ژور نالستانو پوښتنو ته د ځواب ورکولو نه مخکی یوه بیانیه ورکړه او وئی ویل چی :

تر څو روسان مجبور نشی په خپله حوښه به شاتلو ته حاضرنشی څکه دوی په افغانستان کی دخپل خوښی حکومت جوړول غواړی او کهچیری پدی کار کی بریالی نشول نو د افغانستان السانان حیوانات او حتی مرغان ښځم ژوندی پرینږدی . او که دا کاریی هم ونشو کړای نو افغانستان به تر تو ته تو ته کړی او بیلا بیلو ځایو نو کی به جلا ، جلا حکومتونه جوړ کړی ، خود روسانو دا تولی آرزوگانی به یوه هم پوره نشی .

مولوی صاحب وویل چی: څینی خلک وائی چی روسان د افغانستان څخه په عزت تل غواړی ، خوځوک چه اېرواو عزت غواړی د هغه وظیفه ده چه دبل عزت او اېرو هم په نظر کی ولری ، روسانو د افغانستان د ملت سپکاوی کړیدی څنگه دوی دا توقع کولی شی چه د افغانستان ملت به د دوی عزت او اېرو وساتی .

د بناغلی مولوی صاحب د خبرو وروسته ژور نالستانو خپلی پوښتنی پیل کړی .

دافغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد و یندوی جناب مولوی خالص دیو خبر نگار ددی پوښتنې په ځواب کی چه آیا څه به نه وی چه په دی مجلس کی د مجاهدینو داوو تنظیمونو مشرانوهم برخه درلودی وویل : داچه زه د هغوی په نمایندگی دلته ناست یم داهه خپله د واقعی اتحاد نماینده گی ده .

د مسلم د ورځپانی خبر یال پوښتنه وکړه چه مولوی صاحب تاسو په خپله وینا کی وویل چه د مشری دپاره وخت ندی تاکل شوی آیادنورو تنظیمونو مشران ستاسو سره پدی خبری کی موافق دی .

ده په ځواب کی وویل چه که چیری دوی موافق نوی نو زه داسی خبره کولی شم؟

یوبل خبرنگار پوښتنه وکړه چه : ولی خان په خپل بو بیان کی ویلی دی چه تاسو پهخپله یوه بیانیه

کی ویلی چه زمونږ جنګ د غرب د مفاداتو دتحفظ د پاره دی . آیا د غه خبره تاسو کړیده ، ده په ځواب کی د یو لړ توضیحاتو وروسته وویل چه زه تر اوسه پوری ولیخان ته د یو پښتون په سترګه ګورم او یو پښتون باید داسی تصور ونکړی چه روسانو کوم کار و نه کړ ید ی هغه منطقی اوسم دی .

مولوی صاحب زیاته کړه چه زه هغه چاته یخی حیرت وړی یم چه هغه په پاکستان کی خپل ځان غلام ګڼی او افغانستان چه دلکونو روسی قواو لخوا اشغال شوی هغه ته یو آزاد ملک ووائی نو ز ما ګمان نه کیږی چه یو عاقل سړی به دا دول خبری وکړی . ز مونږ افغانیت د ا خبره نه منی . که په مونږ باندی ولی خان دزی هم وکړی مونږ دا خبره نشو منلای چه دده په غاړه کی دی هندو پتکی واچوی او یا دده په غاړه کی د ی روس پتکی واچوی مونږ دروسانو سره دحسابی په وخت کی دا حق لرو چه د داوډ ، تره کی او امین دوینو پوښتنه وکړو ځکه چه دا زمونږ حق و چه جزا مو ورکړی وی . نه دروسانو .

خالص صاحب د یوی پلی پوښتنی په ځواب کی وویل چه نجیب یو هسکر د ی او هغه هیڅکله داحق نلری چه ملی مصالحه اعلان کړی او نه دا حق لری چه لویه جرګه راوبولی او د ا یتئلا فی حکومت د جوړیدو بلنه ورکړی ځکه چه روس ورته و و ا ئی چه ته نه ئی نو یا به نوی .

زمونږ سره که روسان وغواړی خبری وکړی او دا پیشنها د وکړی نو بیا به مونږ په هغه باندی فکر وکړو ، امکان لري چه مونږد هغوسره چه دوی ځرنګه او په څه تر تیب دافغانستان څخه ووځی خبر ي وکړو خو د افغانستان د را تلو نکی نظام او اشخاصو په تعین کی مونږ حاضر نه یو چه د روس یا غر بي مما لکو او یا دامریکا سره خبری وکړو اویا هغوی ته د مداخلی حق ورکړو .

مونږ یو اځی حاضر یو چه د روسانو سره ددوی د وټلو په بر خه کی خبری وکړو اویس ځکه چه هغه اوس ز ما په کو ر کی نا ست د ی زمونږ بچی راوژنی ، ز مونږ هستی او نیستی لیږتو له وړی ده .

اوس وائی ز ما سره خبر ی وکړه ، ز ه ځنګه د هغه سره خبر ی وکړم مونږ حاضر نه یو چه دده سره خبر ی وکړو .

جناب مولوی صاحب د د ی پوښتنی په ځواب کی چه د ا تحاد په صفو نو کی یو ا لی به یواځی په نظامی برخی کی یوالی مینځته راولی او که په سیاسی ساحه کی به هم ؟ وویل چه صفونه په نظامی ساحه کی یو کیږی نه په سیا سی ساحه کی .

خالص صاحب دواحد قوماندی لاندی په نظامی ساحه کی د اساسی مشکلا تو په بر خه کی وویل چه : اساسی مشکلات تر ا و سه پوری د ییلو ییلو تنظیمونو جلا والی و ، خو اوس چه تنظیمونه سره یو ځای کیږی طبعاً دا اساسی مشکلات هم له منځه ځی . ځکه چه زمونږ تر مینځ اختلاف ایدیالوژیکی اختلاف ندی ، مونږ تر اوسه پوری سره متحد وو ا و متحد به اوسو .

د خالص صاحب څخه پوښتنه وکړه چه آیا دروسانو وتل به د نظامی اضمحلال په نتیجه کی وی ؟ ده ځواب و رکړ چه : دا پوښتنه د روسانو څخه وکړ ی . د هغوی خوښه چه زورته کینی او که په خپله خوښه دافغانستان څخه وځی .

مولوی صاحب د دی پوښتنی په ځواب کی چی آیا دروسانو دوتلو په وخت کی به مجاهدین د روسانو سره اوږ بند وکړی او که ؟

ده په ځواب کی وویل : داچی

کله هغوی دخپلو قواو دوتلو اعلان وکړ یا ورسره خبری کوو .

یوخبر نگار دمولوی صاحب څخه پوښتنه وکړه او وی ویل چی تاسو په خپلو خبروکی وو یل چی مو نږ په افغانستان کی داسی یواسلامي حکومت جوړول غواړو چی د دنیا هیڅ ملک تة به مشکلات پیدا نکړی نو دا به څه ډول اسلامی حکومت وی ؟

خالص صاحب په ځواب کی وویل : د اسلامی حکومت لنډ تعبیر دا دی چی هلته به حق زور وی او زور به حق نوی ، او تاسی یو هیږی چی د حق او نا حق معیار قانون دی . خو د انسان په لاس جوړشوی قانون نه بلکه دالله قانون دی دیو داسی قانون په لاړکی قربانی ورکول د بشریت دخیر لاره ده ، او مونږ په دغه لار روان یو دیو خبرنگار ددی پوښتنی په ځواب کی چی : تاسی د امر یکی په دوره کی د ریگن سره ملاقات وکړ آیا ریگن ستاسو سره د روسانو دپلانونو دشنډولو په برخه کی هم نظره دی او آیا هغه به نوره وسله لکه ستینگر او زائیل تاسی ته درکړی؟ داسی وویل :ستاسو پوښتنه سمه نده ځکه چی په ملل متحد کی مونږ د بین المللی طاقت په مقابل کی خبره کوله هغه میدان مویوړ . . . اصلی خبره داده چی یو سړی که څه هم د یو دولت نه اسلحه غواړی دا داسی یوه خبره ده چی د نیا ئی رواج لری . . . . مونږ ته چا په ملل متحد کی ځای ندی راکړی . مونږ تر او سه پوری دوی په رسمیت نه یوپیژندلی نو ځنګه کیدای شی چی د وسلی داخیستلو خبره مو ریگن یا نوروسره کړی وی .

مولوی صاحب په راتلونکی وخت کی دپخوانی بادشاه ظاهرشاه درول په برخه کی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل چی : مونږ په افغانستان کی اسلامی واقعی حکومت غواړو او اسلامی واقعی حکومت همدادی چی د اسلام پابند اشخاص د هغه په سر کی وی او اسلامی قانون تطبیق کړی که داپه ظاهر شاه کی موجود وی زمونږد سرسترګی دی او که بل افغان کی هغه هم زمونږد سر سترګی دی ملت به په هغه باندی فکرکوی داسی اشخاص به مینځته راولی چی هغوی په اسلام کی لوړ خلک وی اوپه اسلامی قانون کی تجربه شوی خلک وی او هغه ددی ملت ناموس وساتلی شی اوددی ملت دین وساتی.

دافغانستان څخه دروسی قواء دوتلو په برخه کی یو خبر نگار د ژینو په پیړو خبرو کی دپاکستان داتوو میاشتو دوخت یادونه وکړه آوپوښتنه ئی وکړه چی آیا د غه داتوومیا شتو پیشنهاد تاسوته دقبول وړدی اوکنه ؟

جناب مولوی صاحب وویل چی : په افغانستان کی دوه مشکله دی یو داچی دافغانستان دملت مشکل ، اوبل بین المللی مشکل، هغه مشکلات چی په بین المللی ساحه کی د ملتونو ترمنځ موجودوی اوهغه دولتونه چی دهغو په برخه کی څه تصامیم نیسی هغه که مونږ قبول کړواو یانه هغه ددوی خپل کار دی او په مونږ پوری تعلق نلری . خوهغه مشکل به د افغانستان ملت ته متوجه وی . هغه دروس اوافغانستان دملت خبره ده اوتر هغه وخته پوری چی د افغانستان ملت په کومه خبره نوی راضی شوی زمونږ مشکلات نشی حل کیدای .

د قضیی د حل په برخه کی باید مونږ غوښتل شوی وای حال دا چه زیدخله ارخونه د افغانستان د مسئلی د حل په خبرو کی ندی شامل او یواځی پاکستان او دکابل گوډاګی حکومت سره خبری کوی . مونږ خپل سرنوشت نه دپاکستان په واک کی ورکولی شو اونه دروسانو په لاس او نه هم د غرب په لاس او دا زمونږ د طرف نه قاطعانه فیصله ده .

یو خبر نگار پوښتنه وکړه چه : د پاکستان او روس ترمینځ داطلاعاتو له مخې د څلور ملیونو ډالرو دامداد خبری کیږی . که چیری پاکستان دا امداد قبول کړی او د افغانسنان د مسئلی متعلق خپل موقف بدل کړی

نو د هغه به په تاسو څه اثر وی او ستاسو عکس العمل به څه وی .

مولوی صاحب په ځواب کی وویل چه : زه خو فکر نه کوم چه زمونږ په مسئلی باندی څه اثر وکړی اوکه بیائی څه اثر وکړو نو زه وایم چه مونږ جهاد د پاکستان په اشاره لدی پیل کړی نوزمونږ جهاد به هماغسی دوام ولری او استمرار به پیدا کوی .

د ښاغلی خالص صاحب نه د افغانستان دراتلونکی ائتلافی حکومت په برخه کی د ښاغلی ضیاءالحق د پیشنهاد په برخه کی پوښتنه وشوه او څرګنده شوه چه صدر ضیاءالحق ویلی وو چه په راتلونکی حکومت کی دی یوه برخه د افغانستان د اوسنی جنګ خلک ، یوه برخه مجاهدین او یوه برخه مهاجرین برخه ولری . روسان به ووځی او له هغه وروسته به یو حکومت را مینځته شی . آیا پدغه برخه کی ستاسو نظر څه دی . آیا دا پیشنهاد تائیدوی او کنه ؟

ده وویل چه :

د دی پیشنهاد په برخه کی زمونږ نه پوښتنه نده شوی که چیری زمونږ نه پوښتنه وشوه نو بیا به مونږ دهو اونه ځواب ورکړو .

جناب مولوی صاحب نه د مطبوعاتی کنفرانس په آخره کی دا پوښتنه هم وشوه چه : په واشنګټن کی ګورباچف اوریګن سره ملاقات کوی آیا دی انتظار کیږی چه څه نتیجه به د دی ملاقات نه راووځي ؟ ستاسی توصیه دهغوی دپاره څه ده . او خالص صاحب ځواب ورکړ چه :

مونږ دا وایو چه که دوی غواړی چه په ټول جهان کی امنیت او صلحه راشی . دوی دلویو دولتونو د مسؤلینو په حیث باید د اسلام دپاره کاروکړی او اسلام دی مطالعه کړی زمونږ دوی ته دا توصیه ده .

یو خبر نګار پوښتنه وکړه مولوی صاحب آیا تاسو داخبره مستقیماً ریګن ته وکړه مولوی صاحب په ځواب کی وویل طبعاً

# د روسی تیری د غندلو لـه امله د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو ګډه غونډه

دروان کال د جدی په شپږمه نیټه په پیښور کی د پاکستان لشنل سنټر په تالار کی د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو په ګډون یوه شاندار غونډه جوړه شوې وه چې په هغی کی د افغانستان ډ ملی اسلامي محاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم او د پاکستان د فدرالي حکومت د لوبو او ثقافت د وزیر نثارمحمد خان ، ځینو نا متو عا لما نو دپښتو ژبی شاعرانو او لیکوالانو یو ز یات شمیر افغا نی مجا هد ینو مهاجرینو او دپاکستان انصارو ورونو

ګډون کړی و .

غونډه د ورځی په دوه بجو د قرآن پاک د ځو مبارکو آیتو نو په تلاوت سره پیل شوه چې د مازدیګر تر ځلورو بجو پورې بی دوام وکړ .

په دغه غونډه کی دافغانستان د ملي اسلامي محاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم ، د پاکستان د فدرالي حکومت د لوبو او ثقافت وزیر نثار محمد خان ، مولانا اشرف قریشی مولانا یوسف قریشی ، دحزب اسلامي غړی عبد القدیر کړیاب ویناوې وکړې او په خپلو خبرو کی یې په افغانستان باندې دروس تیری وغندلو دوی په ګډه سره په خپلو ویناوو کی ډ هغو خلکو غندنه هم وکړه کوم چې دروس د خوشحالولو په خاطر د افغانی مهاجرینو او د پاکستانی انصارو ورونو تر منځ خوا بدي او کرکیچ پیدا کول غواړي .

په دغه غونډه کی مجاهد شاعر او محقق محمد عارف غروال او دانصارو ورونو څخه نا بینا شاعر عبدالستار عارف ختک له خوا له ولولو او احساساتو څخه ډک شعر و نه هم ولوستل شول .

## د جدي په شپږمه نيټه د افغان مهاجرينو او پاکستان انصارو وروڼو په ګډه غونډه کې

# د افغانستان دملي اسلامي محاذ مرستيال داکټر فاروق اعظم

# دوينا لنډيز

د جدي په شپږمه نيټه د افغان مهاجرينو او پاکستاني انصارو وروڼو په ګډه غونډه کې د افغانستان دملي اسلامي محاذ مرستيال داکټر فاروق اعظم د وينا لنډيز په ګرانو وروڼو السلام عليکم ورحمة الله و برکاة !

زه چې په دې ځای کې د مهاجرو او انصارو وروڼو سره ګورم ، داسې فکر کوم لکه سړی چې د خپلو واقعي وروڼو په منځ کې وي زه بيانيه نه وړکوم بلکې زه دې مهاجرو او انصارو او يا په بل عبارت خپلو واقعي وروڼو ته د خپل زړه راز وايم . د افغانستان قضيه لکه چې تاسوته معلومه ده د اوږدو نقشو نتيجه ده .

تن ورځ د افغانستان روان جنګ ستاسي په وروڼو تحميل شوی دی .

دا بې وزله ملت بې له وسله وال مقاومت څخه بله چاره نلري . له ځکه مرغه چې د اسلام سپاهيان په خپل مقاومت سره دې طاغوتانو ته دندان شکنه ځواب وړکوي .

* * *

په جهان د ننګيالو دي دا دوه کاره يا به وخوري ککړه يا به کامران شي

بله لار نشته . د پښتنو نيکه خوشحال خان دا خبره درې سوه کاله مخکې کړې ده روسانو فکر کاوه چې دا کوچنی ملت ، په بين المللی ساحه کې داتجريد شوی خوار ملت به موږ ډير ژر وڼيسو . علامه اقبال لاپخوا افغان ولس ته ويل چې د روس اصلی مقصد د بحر هند نيول دي، خوته د هغه پلاره کې پروت يې . پنځوس کاله پخوا او آن سل کاله پخوا د پاکستان فرد فرد په دې پوهيدلی او اوس هم پوهيږی چې د روس هدف يوازې د افغانستان نيول نه دی بلکې د بحر هند تودو اوبو ته ځان رسول دي . خو الله پاک ته يا بل قسم منظوره وه چې د زمانې دا دومره غټ فرعون او دا دومره غټ طاقت دې په دې کوچني قوم وانسکور کړي . خدای پاک په دې شلم قرن کې داسې يوه معجزه د داسې ضعيفو بندګانو په لاس ښکاره کړه چې د زمانې يو لوی طاغوت دې لس کاله په افغانستان کې وجنګوي او بيا دې هم کامياب تر لاسه نه کړي . سبحان الله زما په ياد دي ، زموږ د جهاد په ابتدا کې به چې زموږ خلکو په غربي نړۍ کې د جهاد قصې کولې او موږ به اروپاييانو او امريکا يانو ته ويل چې کمک راکړی ځکه چې موږ د روس سره جنګيږو . نو هغوی به حيران شول او زما په ياد دي چې ديولوی مملکت په وزارت خارجه کې ماته وويل شول چې داکټر صاحب له روس سره جنګ ډير مشکل کار دی . خو ما ورته وويل چې ؛ يوځل چې چا اراده وکړه نو که هغه په يوې وړې مرمۍ مړ شي او که په اتوم بم مړ شي هرڅه بې فرق نشته . زموږ قوم اراده کړې ده يا به روس ماتوي او يا به دوی محوه کيږي .

داکټر فاروق اعظم د خپلې وينا په يوې برخې کې وويل :

موږ چې دلته مهاجرت کړی دی نو موږ بيګانه کوڑته نه يوراغلي . کومو کسانو چې رسول الله ( ص ) ته په



مدینه منوره کی ځای ورکړ او دهغه خدمتېی وکړ . هلته یوازې دعقیدی خبره وه . خو دا خلک خو موږ ته یو قدم نورهم راوړاندې دی هغهدا چی زموږ سره په وینه کی راشریک دي . موږ ددې خلکو څخه توقع لرله . موږ ددې خلکو څخه توقع لرو چی زموږ سره به کومک کوي او زموږ حمایت به کوي . دا ملک د اسلام په نامه جوړ شوی دی . منشور یی اسلام دی . ددې ملک لهپاره یې شمیره قربانی ورکړل شوي دي . ددې ملک څخه دجوړیدومقصد لااله الاالله دی .

موږ هم د اسلام د پاره جنګیږو . په افغانستان کی چی کوم جنګ روان دی هغه د یوې توپی ځمکی ، یو باغ او یو کور لهپاره نه دی . زموږ مقصد د اسلام سربلندي اود مبارکی عقیدې دفاع ده . نوهغه دې توګه زموږ او ستاسی هدف سره مشترکه دی . نو زهځکه وایم چی زموږ حمایت به تاسو فرض دی اودا ستاسو وظیفه ده چی زموږ حمایت وکړی . کوم کسان چی دلته ناړې وهي چی د افغانستان د قضیی په خاطر موږ تباه شوو . زموږ وطن خراب شو . داسی کسان په مدینه کی هم وو . درسول الله (ص) په وخت کی هم منافقانو ناړې وهلی هغوی هم د مسلمانانو ترمنځ تفرقه غوښتله . هغه کسان چی د افغانستان د برحق جهاد پر خلاف ناړې وهي هغه که پاکستاني وي اویا نورڅوک هغه منافق دي . هغه داسلام دښمنان دي . هغه د پاکستان دښمنان دي اوهغه دپاکستان داستحکام اوسالمیت دښمنان دي .

د افغانستان د ملی اسلامي محاذ مرستیال زیاته کړه چی :

کله چی روسانو په جګړه کی خپله غوښه ماتی ولیدله او په دې پوه شول چی خپل اهداف د جنګ له لارې لاس ته نه شي راوړلای نو د آشتي ملي ، اور بند، لوبې جرګی قانون اساسي او نور تزویرونه او نقشې یی راواخیستلی . خو مجاهدینو په یوه لویه اجتماع کی دا اور بند ور رد کړ او ورته وویل چی دا ستا خدعه او نیرنګ دی . که تر هر څومره اور بند اعلان کړې زما له خوا څخه اور بل دی او نه دې اوریږدم .

د مصالحهٔ ملي په برخه کی یی ورته وویل چی زموږ د افغانانو تر مینځ خو جنګ نشته . او دا جنګ خو زموږ داخلي جنګ نه دی . مصالحه خو د دوو ورو نو تر منځ کیږي . دا جنګ خو د افغان مجاهد او د روس د یوځ جنګ دی . روس خو زما وطندار نه دی . روس خو څه زما قوم او قبیل نه دی . چی زه له هغه سره مصالحه او آشتي وکړم. په دې وجه یی په هغه کنفرانس کی اعلان وکړ چی دا د روس په خدعه او بل تزویر دی او هغه یی ور رد کړ.

روسانو په یو بل حرکت پیل وکړ هغه دا چی لویه جرګه جوړه کړي . دنیا ته داسی فکر ورکړي چی د ملت نمایندګان راټولیږي او

دي موجوده حکومت ته قانوني جنبه
و شکل ورکوي . مجاهد ینو و رته
و ویل ؛ په کوم مملکت کی چی
عملاً روس ناست دی ، حکومت
عملاً د ده کوډاکی ، غلام او په
حقیقت کی د ده عسکر حکومت وي.
نو په داسی شرایطو کی د لویی
جرګی جوړول بی له فضیحت اوخندا
څخه بل شی نه دي . لویی جرګی
ته به یوازې هغه خلک راځی چی
روسان یی غواړی او په جرګه کی
به هغه کسان کښینې چی د روسانو خوښ
وی او له دوی سره اړیکی لري .

همدا رنګه کوم قانون چی د
روس په موجودیت کی ، د جنګ په
حالت کی جوړیږي ،هغه قانون صرف
او صرف دروس مفادات تائید وي .
هغه به دروس دمفاد له پاره جوړیږي .
نو پدې دول مجا هدینو دا قانون
اساسی ورردکړ . دغه راز دوی د
خلکو غولولو له پاره اوس د اسلام
اسلام چیغی هم را پورته کړې . خو
د روس د خولی څخه او د روس له
هنجرې څخه د اسلام غیر څوک نه
شي قبلولی . هغه وخت ز ما با لګل
په یاد دی چی دپل څرخي په زندان
کی بی یو کس را و ستی او زمونږ
سره بی کیناوه . د ده ګناه داوه چی
په خپل وزارت کی په لمانځه ولاړ
و . دایی ولیو او چار ماري بی کړ
یوازې په دې ګناه چی مسلمان دی
خو نن هماغه حاکم وا یی چی زه
مسلمان یم دا فریب دی . دا خدعه
ده . بل څه نه دي . نو څکه مجا -
هدینو دا فریب ور رد کړ . روسان
د نړۍ ۶۳ هیوادونو ته ولاړل څو
هغوی دې ته وا دار کړي چی په
افغا نستان کی ځش په نا مه د نوو
بدلونونو په منځ ته راوړو سره په
ملګروملتونو کی د افغان مجاهدینوپه
طرفداری له رایو ورکولو څخه ډډه
وکړي . خو روسانو له دې امتیا زاتو
او نړیوال طاقت سره سره هم نه کړای
شول چی د مجا هدینو په طرفداری
رایی کمی کړي. بلکی دپخوا په نسبت
مجا هدینو لازیا تی را یی یووړې .
زه یوځل بیا وایم چی په دې ټولو
امتیازاتو کی زمونږ انصار و رو نه
شامل دي .

ډاکټر فاروق اعظم د خپلی وینا
په پای کی وویل :

مونږ ترهغی پورې چی څو روسان
بی له قید او شرط نه وي و تلي ،
ترڅو چی دافغانستان سیاسی استقلال
او د څمکی تمامیت او زمونږ دخلکو
حقوق نه وی تأمین شوي او په
افغانستان کی اسلامی نظام نه وی
قایم شوی ؛ خپل جهاد ته ادامه
ورکوو.

په پای کی په داسی حال کی چی
د افغانستان د جهاد له پاره دعا کوم
د پاکستان د سالمیت او استحکام
له پاره هم دعا کوم . انشاالله تعالی
چی ستاسی افغانان ورو نه به په نړۍ دې
وخت کی خپل آزاد ژوند تر لاسه
کړي او ملک به بی آزادیږي . ستاسی
وروڼو په جنګ کی ډیره ښه
تجربه تر لاسه کړې ده . زما یقین
دی لکه څنګه چی په افغانستان کی
دانګریزالو شکست دانګریز دعظیمی
امپراتورۍ د شکست ابتداوه . داسی
به په افغانستان کی د روس شکست
د روس د امپرا تورۍ د شکست
ابتدا وي .

استبداد روسها مردم بی دفاع کشور را اکنون نیز به مهاجرت مجبور می سازند

## د افغان مهاجرو او پاکستانی انصارو ورونو په ګډه غونده کی

# د پاکستان د فدرالی کابینی دلوبو اوثقافت وزیر نثارمحمد خان د وینا لنډیز



د پاکستان د لوبو او ثقافت وزیر نثارمحمد خان په هغه غونده کی چی د جدي په شپږمه نیټه د روسانو د خونړي تیري د غندنې لو له املـه د پاکستان په نشنل سنټر کی جوړه شوې وه د خپلی وینا په ترڅ کی وویل :

اړون په چارسده کی جمهور رئیس جنرال محمد ضیاؤالحق زما میلمه و. ستاسی د مهاجرو ځینو مشرانو غوښتل چی دی ووینی. دغو مشرانو ویل چی موږ له ده سره ډیره مینه او علاقه لرو او هم غواړو چی صدر صاحب ته د وز لوبی ( بزکشی ) یوه لوبه اجرا کړو. ما دا خبره د مملکت صدر ته وکړه. هغوی وویل چی زماهم همدا خواهش و. ځکه ماغوښتل چی دهمدې لوبی په کتو سره لـه خپلو مجاهدو ورونو سره د مینی اظهار وکړم. په خپله زمادا مطلب وچی زه هلته دروس اجنټانو ته داوښیم چی موږ دمجاهدینو سره دومره مینه لرو چی د هغی مثال نشته. د مملکت صدر هلته په خپل تقریر کی وویل ؛ په راتلونکی کال کی یعنی په ۱۹۸۸ میلادي کال کی چی موږ د افغانستان د آزادۍ دکال په نامه یاد کړی دی دا د وز لـوبی ( بزکشی ) لوبه به موږ انشاالله په افغانستان کی وکړو.

نثار احمد خان وویل :

د افغانستان جنګ موږ د افغانانو بر حق جهاد ګڼو. دا جنګ اوجهاد یوازې ستاسې نه دی. هغه موږ د ټولو نه اول د پاکستان جنګ ګڼو او بیایی د ټول عالم اسلام جنګ ګڼو.

زماخبروورونو ! ولی په افغانستان کی دا کاروشو ؟ اوولی په پاکستان کی دا پریشانی منځ ته راغله ؟ د بهر څخه او دلیرې څخه د سوسیالیزم او کمونیزم آوازونه ډیر خواږه وو. په افغانستان کی په له پاکستان څخه زیات د کمونیزم او سوشلیزم آوازونه وو. نو خدای (ج) پاک هغه ته عملی جامه ورکړه سوسیالیزم او کمونیزم پی راوست او پاکستان ته پی وښودله چی که تاسی د اسلام رسمه پریږدی او کمونیزم غواړی نو دافغانستان حالت وګورې. دا هم شکر دی چی تاسی ته ثابته شوه او موږه ولیده. که اوس هم د پاکستان مسلمانان د دې څخه عبرت وانخلی نو د دوی څخه هم دا ورځ لیرې نه ده.

تاسو خو بیا هم دومره بهادر یاستی او دا توان مو درلود چی اته کاله لګیایی او د یو لوی طاقت سره جنګیږی. زما یقین نه دی چی

بسم الله الرحمن الرحیم

# محاذ

در هر دو ماه یکبار نشر می شود.

سال دوم ـ شماره ـ اول ـ قوس ـ جدی ۱۳۶۶ هجری شمسی

## مطالب عمده ای
## که درین
## شماره میخوانید

۱ : ـ سرمقاله

۲ : ـ د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مشر پیر سید احمد گیلانی د شمالی وزیرستان په میرانشاه کی د مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو سره کتوری خبری وکړی.

۳ : ـ موږ باید په یوالی او اتحاد سره په یوه صف کی د دښمن مقابله وکړو.

٤ : ـ په افغانستان باندې د روسانو وحشیانه تیری په زیاته کرکه او نفرت سره وغندل شو.

٥ : ـ قطع نامه اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان.

٦ : ـ د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد د رئیس جناب مولوی ـ یونس خالص مطبوعاتی کنفرانس.

۷ : ـ د روس د تیری د غندلو له امله د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو وروڼو ګډه غونډه.

۸ : ـ د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مرستیال داکتر فاروق اعظم د وینا لنډیز.

۹ : ـ اساسات حکومت اسلامی.

۱۰ : ـ چه ومو لیدل نو وسومنل.

۱۱ : ـ مسلمانان پابه ګذاران اصلی نظام مالی، اداری و نظامی میباشد

۱۲ : ـ مجاهدین افغانستان یګانه مانع قوی در مسیر ستراتیژی روس بوده و مجاهدین . . .

۱۳ : ـ په افغانستان کی د جهاد راتلونکی.

۱۵ : ـ د ډیری مودی خپګان ځی په خوښی بدل شو.

۱٦ : ـ له مجاهد قوماندان قاری عبداله سره مرکه.

۱۷ : ـ سلاح و آموزش آن.

۱۸ : ـ شهدای راه حق.

ادرس ما :

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

فرهنګی ریاست

د نشراتو لوی مدیریت

پوست بکس ۵۴۲

کبابیان ـ پشاور ـ پاکستان

موږ اته ورځې هم جنګ و کړو . نو ځکه زه دا وایم چې د افغانستان مجاهدین چې کوم جنګ کوی هغه زموږ د پاکستان د مسلمانانو جنګ دی . موږ د ستاسو سره وو اوس هم یو او په آینده کې به هم وو . تر هغه وخته پورې چې افغانستان آزاد شوی نه وی او بیا په هغه کې اسلامی حکومت قایم شوی نه وی . نثارمحمد خان زیاته کړه :

تاسی په مایو ازمویښت وکړی او ما ته دعوت راکړی چې زه له تاسو سره سنګر ته ولاړ شم او هلته دی خدای زما د لاسه روسی قتل او زما د لاسه دی خدای هغه سړی هم قتل کړی چې په ظاهره ځان ته مسلمان وایی خو په واقعیت کې د مسلمان جرړی له ریخه و باسی اود هغه چا سره بر سر پیکاردی چې هغوی د اسلام په نوم را وتلی دی او په دی لاره کې جهاد کوی .

بله خبره چې زه یې باید دلته یاده کړم هغه دا ده چې تاسو به هیڅکله نه وی اوریدلی چې ما کله د افغانستان خلکو ته د مهاجرو خطاب کړی وی . دوی زموږ دین او عقیدی وروڼه دی . ما هغوی ته همیش مجاهدین ویلی دی . موږ دا په داګه وایو ، هر چیر ته چې مسلمانان په تکلیف وی نو دازموږ فرض دی چې هغوی ته به موږ پناه ورکوو . او انشا الله تر څو پورې چې پاکستان موجودوی ـ خدای (ج) دی تر قیامته پورې لری ، موږ به دخپلو مسلمانانو وروڼو په مقابل کې دا فرض پوره کوو . دا به د ستاسو په مقابل کې هم پوره کوو او د نورو مسلمانانو په مقابل کې ایه یې هم پوره کوو .

زما په خیال که ډیری خبری ویشی بیا هم مقصد یو دی . تاسو ته دا وایو چې وارمه خطا کوی . موږ د ستاسو سره یو . تر هغه وخته درسره یو چې تاسو خپل جهاد د برې تر وروستی پراوه و رسوی . مخکی داکټر صاحب د خوشحال خان شعر ووایه ، زه هم یو شعر وایم اوخپله وینا په همدی شعر سره ختمو .

ته د دښمن سر و نه راوړه
زه به‌دی توره په محفل کی ښکلوم

## په افغانستان باندی د تیری کوونکو روسانو د یرغل اتمه کلیزه د جماعت‌اسلامی پاکستان لخوا وغندل شوه

د جدی شپږمه چې د دسمبر د اوه ویشتمی سره سمون خوری د پیښور ښار د مهابت خان په جومات کی د جماعت اسلامی پاکستان د امیر قاضی حسین احمد په مشرکه د افغانستان د ورځی په نامه یوه درنه جلسه وشوه .

پدی جلسه کی یو ځل بیا جماعت اسلامی پاکستان او د پیښور ښاریانو خپله‌مرسته‌اوملاتړدافغانستان‌د مجا ـ هدینو او مهاجرینو سره اعلان کړ .

قاضی حسین احمد د خپل وینا په ترڅ کی وویل چه اوسنی افغانستان د شهیدانو ، مجاهدینو او مهاجرینو افغانستان دی.پدی درنه جلسه کی د صوبه سر حد د جماعت اسلا می ا میر مو لانا گو هر الر حمن او ځنی نو رو عا لمانو او د جماعت اسلامی غړو هم ویناوی وکړی او او د روسانو دغه تیري یې وغانده .

د جلسی په‌پای کی کډون کوونکو د مهابت خان‌جومات ځخه تر چوک یادګاره پورې یوه لویه مظاهره وکړه چه په هغی کی یی د وحشی روسانو د تیری په‌ضد شعارونه‌ورکول کیدل.

# د افغانستان د جهادی څېړنو سر کزله خوا د محمد عرفان ختک د ( بارود او ایمان ) مخ کتنه



د محمد عرفان ختک د «بارود او ایمان» د مخ کتنې په غونډه کې د اکتر فاروق اعظم وینا کوي

د روان عیسوی کال د جنوری په ۲۴ نیټه د یکشنبې ورځ د ماسپښین په دوه نیمو بجو د پاکستان نیشنل سنټر پېښور کې د افغانستان د جهادی څېړنو مرکز له خوا یوه په زړه پورې مرنه غونډه جوړه شوې وه چې په هغې کې د پښتون شاعر محمد عرفان ختک د کتاب « بارود اوایمان» مخ کتنه وشوه .

په‌دغه غونډه کې د پښتو ژبې او ادبیاتو مشهورشاعر او لیکوال د غزل پلار امیر حمزه شینواری د غونډې د مشر میلمه او پیاوړی محقق دا کتر فاروق اعظم دغونډې‌د صدر په حیث برخه اخستې وه .

غونډه د قرآن عظیم‌الشان د مبارکو آیتونو په‌تلاوت سره پرا نستل شوه چې ورپسې شمس‌الرحمان شمسي نعتیه کلام واوراوه .

وروسته بیا د افغانستان د جهادي څېړنو د مرکز په‌نماینده ګې حبیب‌الله رفیع حاضرینو ته د هرکلي وینا واوروله په دغه غونډه کې د پښتو ژبې نامتو شاعرانو او محققینو لکه همیش خلیل ، سعید رهبر ، اعجاز احمد زاهد اوشکیل یوسفزی د موضوع په ارتباط و یناوې وکړې او محمد صدیق پسرلی ، محمد حنیف غمخور حبیب‌الرحمان کسکر ، اما ن‌الله ـ نصرت اوشیرشاه ترخوي شعرونه واورول .

دغونډې په‌بهیر کې دووتنوانصارو ما شو مانو سید ناصر علی شاه او سید قیصر علی شاه د افغانستان‌دجهاد په ارتباط یوه ترانه واو روله چې د لوستونکو ډیره خوښه شوه .

د غونډې په‌پای کې بناغلی‌دا کتر فاروق اعظم د افغانستان دمجاهدینو او دپاکستان د انصارو وروڼو د وروروڼې په اړیکو خبرې وکړې او ویلې ویل چې دا دواړه مسلمان ولسونه دیوه باز د دوو وزروڼو حیثیت لري چې د هر یو په کمبود او نشتوالی سره هغه بل په یوازې توګه نشې الوتلای . ده د افغان مجاهدینو د قربانیو د یاد ولو په‌ترڅ وویل چې انشاالله په نږدې وړځو کې به د افغانستان د آزادۍ شاهدان وو . نو موږې هیله څرګنده کړه چې دې دول غونډو او محفلونو ته دوام ورکړې شي او امید دی چې راتلونکې غونډه دحمزه صاحب په درناوي جوړه شي .

دا کتر فاروق اعظم د خپلې وینا په پای کې د محمد عرفان ختک ددغه نیک اوقابل قدر اقدام‌د تقدیر له پاره هغه ته درې زره کلداري او د دوو تنو ماشومانو د نوازش‌له پاره یې هغوی ته سل سل کلداری ورنبلې .

# د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو په یوه ګډه غونډه کې د روس تیری وغندل شو

دافغاني مجاهدینو اود پاکستانی انصارو ورونو په هغه غونډه کې چې دروان کال د جدي په ۲۲ نیټه په پیښور کې د ګورنمنټ په لوړې لمبر سکولد (A.I.F.P) له خوا په افغانستان باندې د روسي ټیري داتم کال د پای ته رسیدو له امله جوړه شوې وه د افغانستان د ملي اسلامي مجاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم او د صوبهٔ سرحد د حکومت د مذهبی چارو وزیر حاجی عبدالمنان په شمول یو زیات شمیر افغانانو او دپاکستان انصارو ورونو برخه اخیستی وه .

پهدغه غونډه کی دافغانستان د ملي اسلامي مجاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم دخپلې وینا په ترڅ کی وویل چې : «زن ورځ د افغانستان او پاکستان د مسلمانو ولسونو ګټې او افتخارات لهیو او بل سره تړلي دي زه یو ځل بیا تاسو ته ډاډ درکوم چې د افغانستان مسلمان ولس به په نړۍ وخت کی دخپل بري پراوته ورسیږي او روسان به خامخا مخ په ماتی ییر ته مټنیږی . د افغانستان د جهاد پهدې مرحله کی اود افغانستان د مسلمان ملت په دغـــه حساسه او تاریخ جوړوونکی مرحله کـی چې کوم افتخارات د افغان مجاهدینو په برخه کیږي په هغوی کی زمونږ پاکستاني ورونـه هم شامل دي روس په وسله واله جګړه کـــی په ډډهم کال ځلورمه ګټه او « بارود او ایمان»هم وویشل شول .

غونډه د مازدیګر په ځلور نیمو بجو پای ته ورسیده او برخه والو په هغه مازدیګرنی کی برخه واخسته چې د افغانستان د جهادی ځیرنو له خوا ترتیب شوی وه .

ګډونو شوی دی . اوس غواړي چې خپله نظامي ماتی دچل او فریب له مخی په سیاسی ډګر کی تلافي کړي خو زه دا وایم چې د بر ژر به یـه سیاسي ډګر کی هم په ګډونو شي زه خپلو مجاهدو او پاکستاني انصارو ورونو ته ډاډ ورکوم چې موږ بـه ډیر ژر خپل آزاد هیواد افغانستان ته ولاړ شو او هلته به د خپل بري شاهدان وو » .

پهدې غونډه کی دپاکستان د صوبهٔ سرحد دایالتی حکومت دمذهبی چارو وزیر حاجی عبدالمنان هـــم د روسي متجاوزینو دوحشی تیري اوپه مقابل کی یی دافغان مجاهدینو دلی دریغه مقاومت پـه ارتباط وینا وکړه چې دخپلې وینا په بوټیبرخی کی یی وویل :

« دافغانستان اوپاکستان دواړه واسونه مسلمانان دي ، کلچر مو یو دی دین مو یودی او ژبهمو یوه ده دمسلمانانو په حیث په موږ فرض ده

پاتی په ( ۳۶ ) مخ کی

په دغه غونډه کی د افغانستان د د جهاد ثقافتی شورا مشر صباح الدین کشککی ، الحاج سید حکیم کمال شینواری ، ننګ یو سفزي اویوزیات شمیر مجاهدو او انصارو شاهرانو او ادیبانو برخهاخستی وه . دغونډې په برخه والوباندی د«قلم» د مجلی

ترجمه از احمد رونده :

# اساسات حکومت اسلامی
## حاکمیت خداوند (ج)

در اصطلاح سیاسی اقتدار و قدرت مطلق را حاکمیت گویند که پایین اساس آن قدرت یا سلطه ایکه اراده و پسندش سر چشمهٔ قانون و حکمش مافوق همه باشد قدرتمند و حاکم اعلی نامیده میشود که باصطلاح شرعی انرا حاکمیت شرعی خوانده اند یعنی حاکمیت قانونی. نظام حکومت اسلامی و اصول اولیه و بنیادی سیاست شرعی آنست که حاکمیت و اقتدار اعلی مخلوقات صفتی از صفات باریتعالی (ج) است. مبداء ویا منشاء قانون، عقل انسانی نه بلکه وحی منجانب الله (ج) است. وبه قرآن و سنت در آن حق اولیت داده شده است.

اثبات حاکمیت الهی به قرآن سنت، رفتار و کردار خلفای راشدین اجماع امت وقیاس میگردد که تحت این عنوان به توضیح و تدقیق این اصول اساسی میپردازیم :

**معنی لغوی حکم :** ـ حاکم از حکم مأخوذ است که معنی آن فیصله واصدار فرمان میباشد که این منظور افریقی (رح) آنرا دانش وحکمت هم نوشته است. ابن درید که در سال ۳۲۱ هـ وفات یافته مینویسد که: هر آن سخن که بتو پند واندرز دهد یا ترا متوجه خطا و اشتباهت سازد یا ترا بسوی شرافت رهنمون شود ویا ترا از نواهی برحذر دارد بهاینچنین سخن وکلام حکمت و حکم نیز نام دهند.

علامه جمال قرشی مینویسد که : حکم، فرمان، دانش و حکمت را گویند مختصر اینکه حکم در لغت به معنی فیصله، قضاوت و فرمان شاهی میباشد که در زبان مروج مراد از آن قانون امرونهی است.

**مفهوم فقهی حکم شرعی:** دانشمندان علم اصول، حکم شرعی را چنین تعریف کرده اند : حکم شرعی آن فرمان خداوندی (ج) است که بواسطه آن بعضی افعال واجب وسنت ویا مستحب و در برخی نامشروع و حرام گردانیده شده که این نوع احکام را احکام شرعی یا شریعت گویند.

## ایات قرآنی در باره حاکمیت خداوندی (ج) :

در قرآن عظیم الشان در مورد حاکمیت و قانون سازی خدا (ج) ایاتی نازل گردیده در ۲۴ آیت از کلمه حکم ومشتقات آن ثابت میشود که خداوند متعال (ج) حاکم شارع وقانون ساز است.

طور مثال :ـ در سورهٔ مائده تذکر رفته : « آیا شما فیصله وقضاوت زمان جاهلیت را میخواهید حالانکه مردمی که بخداوند (ج) معتقدند نزد آنان حکمی بهتر و گزیده تر از حکم خداوند نیست » از این آیت مبارک چنین مستفاد میشود که قضاوت و فیصله به قانون انسانی (ساخته انسان) جهالت است وقبول وپذیرش قانون شرعی منحیث بهترین و

جا معین قانون خدا است یقین، تکیه واعتماد بر ایمان است.

امام ابن کثیر (رح) در تفسیراین آیت به حواله کتابی بهنام چنگیزخان مینویسد که: هر که این خط مشی ورفتار را اختیار کند چنانکه‌چنگیزخان اختیار کرده بود او کافر است و جنگ با او واجب است تا آنکه بسوی خدا وقانون او تعالی برنگردد وبه فیصله معاملاتی اعم از کوچک و بزرگ مطابق قرآن و سنت اماده نگردد.

همچنان در سوره انعام ۱۱۴ تذکار یافته: «ایا من بجز خدا در جستجوی حاکم دیگری گردم در حالیکه اوتعالی (ج) برای شما کتاب واضح و آشکاری فرستاده است.» یعنی رویه وسلوک آنعده مردمی که قانون خداوندی را گزارده و سوی قانون ساخته بشر میلان پیدا میکنند حیرت انگیز و تعجب آور است ودر سوره یوسف (ع) آمده که:

«بجز خداوند (ج) هیچکس‌حق حکم کردن راندارد» خداوندفرموده که بغیر من بندگی کسی را نکنید واین‌راز اساسیست اماعده زیادی‌مردم براین‌علم ندارندودرسوره بقره(۲۱۳) «نازل کرده و فرستاده، خداوند با او کتابی‌براستی وصداقت تاآنکه درمیان مردم برآنچه که آنان بر آن اختلاف دارند فیصله وقضاوت‌نماید.»

هر گاه مقام حاکمیت موکول بعقل بشرمیبود، در آنوقت ضرورتی به ارسال انبیا و رسل و نزول کتب دیده نمی شد. کتب آسمانی به ملحوظی نازل و فرستاده شده تا همه فیصله ها باساس انها صورت پذیرد و قانون واجب الاطاعت زندگانی گردد.

در سوره المائیده آیه ۴۳، ۴۴ و ۴۶ میفرماید: «آن‌مردمیکه‌باحکام فرستادهٔ از جانب خدا عمل و فیصله نمی کنند، کافرند، ظالمند و فاسق.

## کفر بدو قسمت تقسیم شده: کفر اعتقادی و کفر عملی.

هرگاه به حاکمیت خدا (ج) و قانون اوتعالی (ج) اعتقاد و ایمان نباشد انرا کفر اعتقادی نامند و اگر بران ایمان باشد و باوصف فهم و دانش بصورت عملی آگاها نه خلاف آن فیصله وقضاوت بعمل آید ویا باساس آن عمل‌نگردد در آنصورت کفر عملی «فسق» خوانده میشود ظلم حقوق یکی را به دیگری دادن است و یا حق را به صاحب آن نه دادن مبنا شدآنکه باساس قانون بشری فیصله و عمل نماید او در حقیت حق خالق را به مخلوق میدهد و اینرا شرک فی‌الحکم میگویند که‌در قرآن کریم بنام ظلم عظیم خوانده شده است.

فلهذا، شرک هم بدو قسم است: شرک عملی و شرک اعتقادی بدینطورمعنی‌فسق، بغاوت، سرکشی و از بندگی خداوند (ج) بدور ماندن است که اینهم دو قسم است، فسق عملی و فسق اعتقادی.

حضرت عطا (رح) وطاوس (رح) ضمن اشاره باینطریق فرموده اند، کفر وظلم وفسق هم درجاتی دارد.

همچنان امام بخاری رح در مورد درجات کفر و ظلم توضیحاتی داده است. کسی از حضرت حذیفه پرسید که: این آیات خود در باره بنی اسرائیل نازل گردیده؟ او در جواب فرمود: «بنی اسرائیل هم برادران خوب شما هستند که تلخیها همه برای آنها و شیرینها برای شما حالانکه هیچگاه چنین نیست شما هم بقدم آنها قدم می نهید.»

حسن‌بصری‌وابراهیم‌نخعی(رح) هر دو گفته اند که: این آیت طور آشکار برای بنی‌اسرائیل و در مورد آنان نازل گردیده لاکن این حکم و ارشاد متوجه مانیز میباشد.

## فیصله معاملات و مناقشات توسط طاغوت یا تحکم بالطاغوت

ثبوت حاکمیت خداوند طور دیگری هم در قرآن کریم موجود است وآن حکم انکاراز طاغوت‌است در مورد طاغوت هشت آیه نازل‌شده که در اینجا آیات نخستین را نقل میکنیم وبعد حقیقت طاغوت رابرملاء میداریم :

۱ - هر که از طاغوت رو بر گردانید وبه خداوند (ج) ایمان اورد پس‌به تحقیق به‌حبل متین‌و مستحکم خدا چنگ زد که هیچگاه گسست ندارد . وخداوند (ج) بر هر چه دانا و شنوا است » در این آیت طاغوت مقابل خدا (ج) آمده واز آن رو- گردانیدن و سرکشی و با حکام و فرامین خداوندی ایمان داشتن را (عروه الوثقی) یعنی حلقه نا شکن و غیر گسستنی و تکیه محکم نامیده شده است .

کفر بالطاغوت خواست‌و طلب لا الله است و ایمان با الله الا الله خواستن میباشد بغیر از قوانین خداوند (ج) انکار وروگردانی ازهمه قوانین دیگر کما ل ایمان اوردن به قوانین خدا (ج) حقیقت کلمه طیبه ومفهوم توحید میباشد .

۲ - وآن کسا نیکه کافرند پس طاغوت دوست آنها است آنانرا از نور وروشنی بسوی تاریکی و تیرگی میکشاند و همین کسان اهل دوزخ میباشند و پیوسته و همیشه در دوزخ جادارند از این مضمون بر می آید که قانون طاغوت تیر وتارو قانون خدانور وروشنائی است .

۳ - « آیا تو ندیدی که بانان بخشی از کتاب داده شده آنان نخست وهم وطاغوت را میپذیرند ومیگویند که این کافران به نسبت مسلمانان براه راست وصحیح در حرکت اند این آن گروهی است که خداوند بران لعنت فرستاده وبرآنکه خداوند لعنت کند او یار و مددگار دیگری نخواهد یافت .»

این آیه کریمه میرساند که بدون نظام طاغوت وقانون خداوندی اطاعت از سایر قوانین باعث قهر و غضب خداوند (ج) میگردد و نزد اینطور مردم ( مطیع قوانین ساخته انسان ) شرک و کفر بهتر از توحید بنظر میخورد النساء ۵۲ - ۵۱

۴ - ای پیامبر ایا تو ندیدی مردمی راکه ادعا داشتند که ایمان آوردیم برآنچه نازل شده برتو وقبل ازتو ، لیکن در فیصله معاملات شان به طاغوت رجوع مینمایند حالانیکه با آنان امر شده که طاغوت را نپذیرند . شیطان میخواهد آنانرا از حق بدور دارد وگمراه کند » (انساء . ٤ ) آیه مبارکه فوق در قسمت منافقین نازل گردیده بود که فیصله منازعهٔ خودرا بایهودی ذریعه کعب بن اشرف نمود .

از آیت شریف‌متذکره‌برمیاید که قضاوت‌وفیصله‌بر طاغوت‌منافقت‌است.

۵ - همچنان: «آنانیکه‌ایمان‌اورده‌اند ومؤمنند‌درراه‌خدا(ج)می‌جنگندوانانیکه کافرند رزم‌وجنگ شان‌بخاطر شیطان ودرراه شیطان‌وطاغوت میباشد شمابا شیطان و یاران و دوستانش بجنگید بدون تردیدمکرو فریب شیطان خیلی ضعیف است » « النساء ۷۶».

مقصد آیه مبارکه بالا اینستکه بخاطر اعلای کلمةالله جنگیدن وجهاد نمودن خواست ایمان و در ارتقای قانون طاغوت مبارزه و جنگ کفر است .

ونظام طاغوتی جز مکروفریب شیطان چیز دیگری نیست .

۶ - ما برای هر امتی پیامبری فرستاده ایم به ملحوظ انکه خدا را بندگی و پرستش کنند و از طاغوت محفوظ مانند » «النحل ۳۶».

از آیه مبارکه چنین مستفاد

میشود که حکم بندگی طاغوت ودوری گزیدن از قرآنین او به هر پیغمبری داده شده بود و اساس همه شرایع بربنیاد حاکمیت اوتعالی وبندگی ذات او نهاده شده است .

۷ - «هرآنکه از بندگی طاغوت اجتناب ورزید وسوی خدا (ج) رجوع کرد ، او مژده فلاح وخرسندی یافت (الزمر ۱۷) یعنی مردمی مستحق مژده خوش پنداشته شوند که از بندگی طاغوت می پرهیزند .»

از آیات فوق صراحتاً معلوم می شود که اختیار حکم کننده فیصله دهنده و قانون‌سازی به‌طاغوت داده نشده بلکه به هر مومن فرض است که از آن رو برگرداند ودوری گزیند.

## مفهوم طاغوت از نگاه قاموس دانان

کلمه طاغوت ازطغی ، اطغیان یا طغوی و طغوان مأخوذ است طغی طغیان ، طغو ، طغوی وطغوان عجز، از حد اعتدال بیرون شدن یا برآمدن میباشد .

در قرآن کریم معنای سرکشی و از حد اعتدال برآمدن از همین کلمه مشق بوده و کثیر الاستعمال است .

مانند «کفرت ثمود بطغوها (الشمس ۱۱) قوم ثمود با ساس سرکشی حق را دروغ و باطل خواندند .»

فی طغیانهم یعمهون (البقره ۱۵ الانعام ۱۱۰ الاعراف ۱۸۶ یونس ۱۱ - الاسرا ۶۰ الکهف ۸۰ المؤمنون ۷۵ ) یعنی این مردمان نسبت سرکشی شان کور عقل شده سرگردان و پریشان گشتند .

کلمه طاغوت صیغه مبالغه همین ماده است که معنی کثیر الطغیان یعنی درسرکشی نافرمانی و از حدود برآمدن از چارچوب قانون برآمدن و از همه سبقت جستن است که نه‌تنها گمراه وسرکش بلکه رهبر گمراهی وکفر نیز هست .

قاموس دانان (لغت شناسان) چگونگی این کلمه را چنین بیان و توضیح مینمایند کلمه طاغوت برای واحد ، جمع مذکر و مونث همه مستعمل است که وزن صرفی آن فعلوت یاطغیوت میباشد . که باتقدیم (ی) بر (غ) و تبدیل آن به (الف) صورت گرفته است .

ابوالحسن (رح) فرموده است که : بندگی هر کسی بجز خدا و اند جبت و طاغوتیت است . شعبی (رح) عطار (رح) فرموده اند که (جبت) جادو را گویند و هر آن انسانی را طاغوت خواندند که رهنمود و رهبر گمراهی باشد .

---

د ( ۲۲ ) مخ پاتی

## دافغان مجاهدینو اوده ...

چې د مسلمانانو دفاع وکړو . د پاکستان حکومت اوخلکو افغانانوته دخپلې اسلامي جذبې او انسان‌دوستۍ په اساس پناه ورکړه . افغان مجاهدینو هم داسلام په‌قوي جذبه پوره اته کاله دروسي په مقابل کې مقاومت وکړ . لکه څنګه چې په مدینه منوره کې انصارو د مهاجرینو سره مرسته وکړه . او د هغوی خدمت یې وکړ دغه راز دپاکستان حکومت اوملت به هم تر آخره پورې د افغان مهاجرینو مدد وکړی او په دې لاره کې هر ډول قربانۍ ته تیار دی » .

دغه راز په دغه غونډه کې د حزب اسلامي غړی نواب سلیم او څینوانصارو وروڼولکه حبیب‌الرحمن محمد معظم بټ او میا محمداختر هم ویناوې وکړې او په خپلو ویناوکې یې له افغان مجاهدینو څخه خپل تینګ ملاتړ څرګند کړ .

غونډه چې دورځې په درېوبجو پیل شوې و. دمازدیګر ترپنځو بجو پورې یې دوام وکړ .

په تیر بهی

عبدالله گل‌ریان

# چې وسولیدل نوومو منل

شپږمه برخه

## تعذیب او شکنجې

په کمو لستې ژوند ژواک کې دولی ؟ اودغه لپاره؟ ګلنی‌نه‌اوریدل کیږی ، څکه هلته دهر اجباری کار دکولو یا دنورو هر دول حقو قو د غضب کولو لپاره دا کافی ده چې ووایې دحزب دستور دي .

که له چا څخه د کوم کار یا آمر په مقابل کې ولې ؟ یاد څه لپاره ؟ الفاظ واو ریدل شی نو بد له به یې لږی څل شکنجې او بیا د اجباری کار و نو کمپو نو ته لږدول وی د شکنجو اوبرونو په هکله کدوغوارو چې څه وایکل شی خولږ به دا وی چې کتابونه ور باندی ډک شی ، نږه داده چې دمضمون داوږدوالی دویری له املې یواځې دیوه ترکستانی مهاجر لږمکتوب دلته رانقل شي هغه‌لیکی :

... د کمو نیزم په زندانونو کې به یې د بندیانو د سر په کاسه کې تر هغه میخونه ټکو هل څو به مغز ته ورسیدل ... دبندیانو په سراوصوت به بې پترول پا شل او او ر به بې ورته ورکاوه څوبه ژوندی سوځیدل ... روسی عسکروبه دنښې دتختو په څای د بندیانو سینې په نښه‌کولی او ویشتلی ... د بندی په مخ او سربه بې ایشیدلی غوړې توبول ...

دبندی سربه یې په یوه د ستګاه او بدن به بې په بله د ستګاه پو ری نښلاوو او دستګاووته به یې دیوی اوبلی په خلاف حرکت ورکاوه څو به‌زندانی په‌تېل شوی جرم‌اقرار وکړ او یابه مړشو .

داوسپنې توتی به یې په اور سری کولی او دبندی د بدن غړی به‌یې ورباندی‌داغول . دبندی دسر ویښتان به‌یې‌دا سی‌کشول څو به د سر پوست ورسره واوښت ... دبندی بدن به یې داوسپنو په ږمنځو ږمنځاوه .

بندی به یې کلک ټرلی ژ اوویلی شوی جوش مواد به یې د خولی او ... د بندی لاسولانه به یې شاته ټرلی او په اووو به بې دروند وزن ورته ایښود ... بندی‌به بې‌څوساعته لاس ټرلی‌په چت پوری څوړنداوه . بندی به‌یې پداسی چوکو ( لرګیو ) واهه چې په هغه کې به تیره تیره میخونه له وو . ورو سته له هغې چې بندي به بې خو را کلک ووا هه په چاقو یا خنجر به بې‌دغوښتوتوتی ورڅخه پرې کولی ... ورو سته له هغه چې دزندانی بدن به زخمی شو په زخمونو کې به یې غو ته غوته تار تیراوو خو د ډیر وحشت لپاره په چې کله زخم لږ ښه شو بیا به یې‌له‌همدغه تار څخه داری پشان استفاده کوله او هغه لږ جوړ شوی زخم‌به ئې بیاتازه کاوو ... د بندی‌د لاسونو او پښو ګوتی به یې سره ګنډلی اوځو ساعته به یې هم همغسی کښینولی و .

دا و دمسلمان مهاجرد لیک لږیز خو د «ګفتګو با کمونیستها» په ۷۷

مخ کې لیکل شوی دی چې د بندی لاس او پښې په بې‌ټرلې او بیا به بې له لږمانو څخه ډک پولوښې ورباندی تشا وو ځو لږمان هر چیرې چې و- غواړی او وئې چیچي او . . . که څه‌هم په افغانستان کې دمارکسستانو د مظالمو او ریږولو لیکلو ضرورت په ډې نشته چې د افغانستان خلک عملاً شکنجې وینی ، هر زندانی چې په ډیر بیداریخت له زندانه راخلاص شوی وی نو له ځان سره د ریږولو داستا نو نه لری ، خو بیا به یوی برخی ته دلمونې په ډول اشاره وشی .

شفیق‌توریالی لیکی : دغزنی‌ولایت په محبس کې بې زماترمخ زمادوبرولو لپاره دیوه مجاهد نوکونه وایستل . دغزنی دمحبس خواته په یوه باغ کې بې د یوه مجاهد دواړه لاسونه دیوی وئې په څانته ځانته څانګو پسې وترل اوچې څانګې بې خوشی کړی دمجاهد دواړه لاسونه له تنې څخه جلاشول.

دکابل پوهنتون یوه‌محصله(راضیه) وایي : زه په ۱۹۸۱ م کال کې‌بندیځ شوم‌هلته می و لیدل چې په یو مسیخ لرونکی تخته به بې بند یا ن ودرول او بیا نه بې‌په ځنځیر او کیبل وهل بند یا ن به بې سر په ځړی.په چت پورې ځوړندول . پښې به بې خوب ته نه پرښودلی ، په سرو اوبو کې چې کوم کیمیاوی محلول به هم‌پکې ډ دروئی چې ځو ساعته وروسته به بې پښو پوستوا چاوه ،کله به‌بې‌هم د سرو دوړاندی پښې شکنجه کولی آن تردې چې دیوه مجاهد دوړاندی بې له یوی پښې سره دعفت ضدعمل اجرا کړ او بیایی مجاهد دومره ووا هه ځو شهید شو ، وروسته بې د شهید جسد اوهغه ژوندی پښه په یوه‌کوته کې واچول .

دپولیسو یوعالی رتبه افسر وایي : زما دفتر د بڼار دباندی واقع و ، یوه وړځ دبڼار لورته روان‌وم چې ناڅاپه می‌په‌یوه باردار موټرسترګی ولګیدی چې دمړیو له جسدونو څخه ډک‌اود اګسا ددروازې مخته ولاړو ،دمړو په منځ کې می یو جسد ولید چې لاس بې پرې شوی و ، بل په ځنګ ځپل شوی اودبل له خولې په هغه وخت کې هم وینې بهیدلې . . .

د خاد یو پخوانی مامور وا یي : کله به چې د شکنجو په ملګرتیا د بندیانو تحقیق خلاص شو بندیان به پلچرخې او روسیې ته لیږدول کیدل ځوانان په معمولاً دروسیې سایږیاته استول کیدل . صدای اریانا دځینو شکنجو د یادولو تر ځنګ یوه زړه دردونکی‌قصه هم لیکی :

د ۱۹۸۲ م داوړی په موسم کې یوه سړی خپله ماندینه زیږنتون ته بوتله ، هلته ډاکټرانو ورته وویل چې ځه دوا له درملتون ځخه‌راوړی، هغه ځوارکې په ښار کې دتلاشی په وخت کې دکمونستانو له خواعسکر ی ته براپر تشخیص اود عسکرو دتجمع مرکز ته بې واستا وه هلته له دریو ورځو وروسته دچاپه مرسته راخلاص شو ، کله چې زیږنتون ته راغی که ګوری ماندینه بې سړه شوی وه چې په ښکا ره خو بې هغه علت شو چې هغه ضروری دوا ورته راونه رسیده په‌کومه پسې چې بې خاوند تللی‌و.

دی سړی په ګورکې بل سرپرست نه درلود نودری زامن بې په‌کورکې په بنده دروازه پر ی اینې وو کله چې کور ته راغی وړو کې ځوی بې مړ شوی و او دوه نور زامن بې له لوړی بی هوښه وو .

بله نه ده ځوزه هم دکمو نیزم د دوزخ‌له شکنجو ځخه لږیادونه‌وکړم . یو صاحب منصب داغتشاش جوړولو په تور په اګسا کې بندی و خوده اقرار نه‌کاوه دهغه ماندینه بې راوستله او دډې لپاره بې ریږوله ځو په خپل خاوند ددروغو شاهدی ووا بې خو هغې چې اصلاً لا خبره نه وه څه نه وېل ، د همدی صاحب منصب د وړاندی بې دهغې دتیو په سرو نو د برق مزی وترل چې کله بې برق ږیل کړ هغه مظلومه پور ته غوڅ‌شوله ، صاحب منصب چې لاس

اما . . . آنشب دلش شور می‌زد و وحشت اش ازروز های جدائی بود .

با اند یشهٔ هم مجلس بود ، سیاه و ما تم زده . . . .

ناگهان آواز ترانهٔ پدر در دل زمان دو ید . . .

اما ! . . اینبار ترانه اش شوردیگر داشت و فر یاد اش سوز دیگر . . .

تگرگ مرمی هایش چون برق‌بهاری روی حریر سیاه رنگ آ سمان لا اله نو شت . . .

ولی دیگر ترانه اش نا تمام ماند تفنگ اش بی صدا . . . ستارگان دانه دا نه خود را از این بزم خون کنار می کشیدند . مهتاب از فرط غم زانو زد و آ سمان سیاه پوشید . . .

اما ! مرغ سحر ! . . .

آری ! مرغ سحر زبان کشود و در محفل شها دت پدر فرا خوا ندش و او با « قا فله دار صبح » ، بسو ی کالبد بخون خفته پدر دوید وباخا مهٔ انگشتان کودکانه اش با خون پدر کنار لااله الاالله نوشت .

و السلام

الحاج غلام صدیق مهمند

# د افغانی میندو او ماشومانو ستونځی

په افغانستان کی د کمو نسستی حکومت له تحمیلیدو څخه را پدیخوا چی دروسانو په مرسته منځ ته راغی او بیا خصوصاً د روسانود مستقیمی هوځی مداخلی را هیسی دمصیبت، تکلیف، غمونو، دردونو، ورانیو خرابیو، ظلم او تشدد وحشت او بربریت داسی یوه مرحله راغلی چی په تاریخ کی ئی ساری نه لیدل کیږی. فصلونه وسوزول، شول کلی او بنارونه ویران کړی شول داوبولگولوذرایع له منځه یو ړل شوی دیو میلیون څخه زیات افغانان په دی گناه چی د خارجی برغل په مقابل کی د دین او وطن دفاع کوی شهیدان کړای شول او په زرگونو لور ئي تورو بندیخانو ته ولیږل شول. څه دپاسه پنځه میلیونه افغانان وطن پریښودو ته مجبور شول اوپه زرگونو نورویی خپل کلی او کورونه پریښودل یائی غرولو ته پناه یووړه اویا خویي د سره استعمار خولی ته ځان ورو اچاوه او لو یو بنارونو ته لاړل.

روسی استعمار اود هغوی گودائی کمونسانو (خلقیانواو پرچمیانو) څه ظلم او نارواوه وچی په افغانانو ئی وکړه افغانستان د روسی وسلی یوه تجربگاه وگرځیده. دوی خپله هرراز وسله چی تر اوسه ئی تری په کوم جنگ کی استفاده نه وه کړی په افغانستان کی واز ما یله. حتی چه دوی په کاریزونو گی داسی کیمیاوی مکروب وا چول چی خلک بی به کولرا (وبا) اونورومرضونو اخته کړل چی ژوندی مثال یي د غزنی ولایت دمقر ولسوالی ده.

خود افغانانو ارادی کلکی دی هغوی په خپل خدای(ج) پوره باور لری او په همغه ذات ئی توکل دی اوددوی هیڅ راز وسله بهیری انشاالله کارگره واقع نشی اودوی به ترهغه وخته خپل مقدس جهاد ته ادامه ورکوی ترڅو چی کمونیزم د افغانستان څخه کده نه وی کړی.

افغانان نن د دنیا له یو لوی مادی طاقت سره په جنگ بوخت دی اودا یوه طبعي خبره ده چی د ی جنگ مونږ ته رنگا رنگ پشړی مشکلات او ستونځی پیدا کړیدی چی باید اول هغه وهڅاندلی شی او بیا دهغو درفع کولو دپاره هڅه او کوشش وشی.

په عمومی توگه زمونږ مشکلات په دوه برخو ویشل کیږی چی ځانگړی عوامل لری.

اول :- د افغانستان دننه.

دوهم :- د افغانستان څخه بهر.

همی خوگه مونږ دامشکلات وڅیړو نو سا حی ئی مخالفی او فهرست ئی ډیر لوی دی خو په عمومی صورت بیا هم دا ستونځی مونږ په دوه برخو جدا کولی شو.

اول :هغه ستونځی چی مونږ یی د جهادپه سا حه کی لر و لکه دجنگی تجهیزاتو کمبود د ځینو قوماندانانو په منځ کی گله نا گله عدم همکاری وغیره وغیره.

۲ - هغه ستونځی چی د بشری حقوقو او ضرورتونو څخه عبارت دی، د دوی فهرست هم اوږد دی اود بشری اړتیا ووټولی سا حی لکه تعلیم، غذا، صحی گو مکو نه او نورپکی شامل دی.

په دی ټولو ساحو څه نوشته گول ځانگړی ریسرچ اوډیر وخت غواړی

چې کەچیرته د افغانانو یوه ډله پوهان او لیکوالان دا دنده په ذمه واخلی افغانانو اود افغانستان جهاد ته به بې ښټ ډیر خدمت کړی وی .

زه پدی مقاله کی فقط غواړم چې سر سری نظر د ماشو مانو او میندو په تیره‌یا د هغو میندو چه خپلستان بې د شها د ت لوړ مقام‌ته رسید لی رنا واچوم :

د شورویانو اود هغوی دغلا مانو د وحشیانه بر بریت په نتیجه کی د افغانستان په لکونو ماشومانو خپل پلرونه اونور هغه‌نږدی خپل خپلوان د لا سه ورکړی کوم چې د دوی د تعلیم او تر بی او روزنی مسئولیت ئی په غاړه دراود . په دی اساس دوی د تعلیم او تر بی د پاره هیڅ وسیله اوذریعه نلری او تقریباً اکثر ی دتعلیم له نعمت څخه محروم‌پاتی دی .

حر نګه چې اکثر شفا خا نی یا د روسانو دبمبارید په اثر ورانی شوی او یا خوئی‌دآ ګنمرانوهجرت کړی دی په کوم ځای کی چې د مجاهدینوله خوا صحی کلینیکونه اومعاینه‌خانی یی د پیشور په څار کی د نته‌جوړی کړی دی او یواځی هغه مهاجر تری استفاده کولی شی چه هغوي په ښا یانیار ته نژدی کمپونو کی ژوند کوی او د ماشومانو د پاره خو لاتر اوسه هیڅ یوه شفاخانه وجود نلری

فلهذا یاخو ماشو مان اکثر د خپل ژوند په اواو ورځو کی دمنځه ځی اویاپه ډیر ضعیف او علیل دول خپل ژوندته‌ادامه ورکوی . هغه ماشومان چې دشورویانو تر تسلط لاندی‌ساحو کی ژوند کوی د هغوی مشکلات لادیر عمیق‌اود اندیښنې وړدی . سر بیره پردې چه هغوی ته په هیڅ صورت‌اسلامی‌اوملی روزنه د ګوډاګی حکومت په مکتبو بو نو کی نه ورکول کیږی په‌زر ګونو ئی په‌زور د بندیانو په شکل شوروی ته لیږل

کیږی ، تر هغو د دوی مغز و نه پریمینځل شی اودوی د خپل د ین او وطن په مقابل کی تربیه کړی چه بیا د خپلو وروڼو په مقابل کی د کمونیسنی نظرلاندی وجنګیږی .

۲ـ دماشومانو حالت دافغانستان څخه بهر :

د ماشو مانو حالت د افغا نستان څخه بهر نسبت هغو ماشومانو ته چه په افغانستان کی دنته‌ژوند کوی ډ

څه بهتر وی . د جهادی تنظمو تو لخوا دوی ته څه‌ناڅه ددینی‌اودنیوی تعلیم اسانتیا وې برا بری شوی او د صحت په هکله هم د ډاکتر او دارو در ملو غم خوړل شوی دی خودا په هیڅ صورت دا معنی نلری چه ګوندی دوی سل‌په سلو کی ددی تسهیلاتو څخه بهره‌مند دی کوم شوونځی جوړ شوی دی‌هم په‌ډیرونو کی جوړ شوی او که شفا خانی دی هم‌په ډیرونو کی‌دی . که‌دا کتران دی هم خپل کلنیکونه اومعاینه‌خانی یی د پیشور په څار کی د نته‌جوړی کړی دی او یواځی هغه مهاجر تری استفاده کولی شی چه هغوي په ښا یانیار ته نژدی کمپونو کی ژوند کوی او د ماشومانو د پاره خو لاتر اوسه هیڅ یوه شفاخانه وجود نلری

ترتیب شوي وه، په دې میلمستیا کې پیر سید احمد ګیلاني د وزیرو مسیدو او دورو له مشرانو او علماو سره ګډوډي خبرې وکړې .

د افغانستان د ملي اسلامي- محاذ د مشر پیر سید احمد ګیلاني د هدایت له مخې د مجاهدینو په سلګونو تنه تازه دمې لښکرې د څوان مجاهد سید محمد ګیلاني او جنرال رحمت‌الله صافي په مشرۍ د جدي په پوولسمه نیټه د کندهارنو او خوست جبها ته روانې شوې تر څو په هغو جهادي سنګرونو کې د نورو مجاهدینو په ملګرتیا د خوست د لښکر کډې د محاصرې کړکه لا نوره هم تینګه کړي او د کمونستو روسي لښکرو په طاغوتي ځالو باندې خپل ګوزارونه پراوړي او ماتې خوړلې دښمن له غوڅې ماتې سره مخامخ کړي .

د (۳) مخ پاتې

## د وروستۍ بري ...

مسلمان گرچه بی خیل وسپاهی است
ضمیراوضمیر پادشاهی است
اگراورا مقامش باز بخشند
جمال او جلال بی پناهی است
اقبال

.د دوی لاسونه او غاښونه د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت د خورو ورو پرګنو د بیلو بیلو صفونو او قشرونو په وینو سره دي .

همدا سبب و چې سږکال د جدي په شپږمه ورځ په افغانستان باندې د روس د تیري او وحشیانه برغل د غندنې مراسم په هیواد، سیمه او نړۍ کې د دې بېکارندوی وو چې دا مجاهد او سرښندونکي ولس په هیڅ توګه او په هیڅ شکل سره د کابل د کمونستي لاسپوڅو سیاسي تسلط په ځان ننني منلای .

د کابل مسلمانو خلکو د خپلو شپږ نامو په ویشلو . او وسله والو بریدونو، مجاهدینو د خپل وسله وال مقاومت د لا تینګښت او غښتلتیا، په پاکستان او ایران کې اوسیدونکو مجاهدینو او مهاجرینو د ستر و او شاندارو غونډو په جوړولو سره خپله وروستۍ فیصله په دې توګه اعلام کړه چې تر څو پورې له افغانستان څخه روسان بې قید او شرطه نه وي وتلي او په افغانستان کې یو ملي، اسلامي او د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت په خوښه آزاد او منتخب نظام منځ ته نه وي راغلی ؛ موږ به خپل مقدس جهاد ته دوام ورکړو:

چه به هغې کې یواځې د ماشو مانو نه وي وشي .

د ښاروټو ځخه لرې علاقو کې د ماشومانو د صحت او تعلیم او تربیې شرایط ډیر بد نه دي .

د صحي نقطه نظر څخه په دې کمپونو کې قطعاً متخصص ډاکټر وجود نلري اونه کومه داسې شفاخانه شته چه په هغې کې د ماشومانو تداوي او علاج وشي د تعلیم او تربیې په ساحه کې هم ډیر کمبود احساسیږي اکثراً په کمپونو کې د ښوونځیو د و دا نیو نه در لو دل او د تکړه استاذانو نشتوالی لو یه ستونځه ده .

په تیره یاد نجونود پار خونه ددینی علم او تعلیم څه بندوبست شته اونه د دنیا ئي مکتبونو نخښه نښانه .

د سها جرینو خو یندو او میندو مشکلا ت غواړم په دووبرخو کې په ګوته کړم .اول په عمومي صورت د ښځو تکالیف بیان کړم . دویم په خصوصي تو ګه دهغو کونډو په باره کې و ګړي یې م چا چه خپل ورو نه ، پلر و نه او خا وند ا ن د افغانستا ن په مقدس جهاد کې دلاسه ور کړی او اوس بې سر پر سته د خپلو ورو ماشومانو سره په پاکستان کې د هجرت ورځې شپې تیروی .

اول عمومي مشکلات : ـ

د ښځو عمده مشکل دهغوی صحي ډاکټر نه لري او که ډاکټر ولري نو هم د ښځو د ناروغیو له پاره نه کوم متخصص ډاکټر وجود لري او نه کوم مه شفا خا نه .

په کومپونو کې په کوم ځای کې چه طبي تیمونه و جود لري هغوی هر راز مریضان ګوري یعني د داخلي ډاکټر د مجبوریت له مخې د جراحي مریض ګوري او د جراحي ډاکټر ګله ناکله نسائي او ولادي ناروغ ته رسیدګي کوي . اکثر شفاخانې په هفته کې دوه ورځې د ښځو تداوي کوي او نورې ورځې که هر څنګه وي باید صبر وکړي .

دلته زما مطلب په ډاکټرانو باندې تنقید کول ندي بلکې د دوي داعمل زه هم ضروري ګڼم ځکه کوم ځای کې که متخصص ډاکټر نه وي نو بیا خو ډاکټر که څه هم هغه مریض دده د تخصص د ساحې څخه بیرون وي هغه مریض وګوري او دا یو نیک کار دی ځکه تر یوې اندازې ډاکټر د مریض سره کومک کولی شي او د بلې خوا مریض ته پوره روحي تسکین رسولی شي .

د ښځو د ناروغیو یعني ولادي او نسائي تسهیلات خو بلکل نشته فقط یوه نسائي ولادي شفا خانه هغه هم په پیښور کې وجود لري چه کافي نده .

زمونږ اکثر کمپونه په ډاګونو کې جوړشوي چه له او بو څخه لرې دي . اکثراً خو افغان کمشتري دا پر ابلم حل کړی دی او په تا نکو نو کې اوبه زخیرو ته وړې چې د هغه ځای څخه بیا هر څوک خپلو کورونو ته او به وړی خو بیا هم ځینې وخت ښځې مجبوري دي چې د ډیرو لرې ځا یو څخه اوبه په سر او غیږ کې د منګو په واسطه راوړي چه دا هم د ښځو له عمده مشکلاتو څخه ګڼل کیږي .

دویم ډګونډو مشکلات :

بر سیره پر پور ته ذکر شویو مشکلاتو کونډې او یا هغه ښځې چه خپل نارینه ئې د لاسه ورکړي دي ځینې ځانګړي مشکلات هم لري چه باید غور پرې وشي .

مثلاً آسیائي ښځې عموماً او خصوصاً افغاني میرمنې هیڅ کله خپل تکالیف او مشکلات په حکومت کې نشي حل و فصل ګولې نه دوي دا جرأت لري اونه هغوی څوک پریږدي چه هغوی پخپل بو کار پسې د حکومت په دوایرو کې وګرځي په دې اساس هغه ښځې چه نارینه ندري نشي ګولې چه ځانته راشن پاس جوړ کړي او که راشن پاس ولري نو د هغه

# نوی عیسوی کال به د افغانستان د آزادی کال وی

## افغان مهاجرین به انشاالله به پوره عزت او درناوی سره خپل هیوادته ستانه شي

دا خبری د پاکستان جمهور رئیس جنرال محمد ضیاوالحق د جدي په پنځمه نیټه دشنبی په ورځ د پیښور په چارسده کی د بزګرانو یو پ د رنی غونډې ته وکړې نومورې وویل چی ترڅو پورې افغان مهاجرین دموجوده ستونځو او مشکلا تو سره مخا مخ وی ، د پاکستان د مسلمان ولس او حکومت دغه مرسته به جاري وي.

جمهور رئیس جنرال محمدضیاوالحق زیاته کړه چی د پاکستان ولس خصوصاً دصوبهٔ سرحد خلکودپاکستان د دښمنانو هغه ټولی دسیسی شنډې او ناکامه کړي ، چی د افغان مهاجرینو او انصارو ترمنځ دکرکی او نفرت د رامنځ ته کولو په مقصدیی جوړ کړي وې او اوس یی هم جوړوي . د صوبهٔ سرحد خلکو دومره ویشت لکو افغانانو ته په ورین تندي پناه ورکړې ده او په دې توګه یی د انصارو ستر کردار سر ته رسولی دی .

دپاکستان جمهور رئیس دا هم وویل ؛ کوم مقصد چی دښمن دپوځي او عسکري قوت په واسطه حاصل نه کړای شو ، اوس غواړي چی هغه د دسیسو په جوړولو او د افغان مجاهدینو په خلاف د دروغجنو پروپاګنډو په کولو سره حاصل کړي .

جنرال ضیاوالحق له خپلی وینا وروسته دافغانستان دلرغوني سپورت وزلو بی نداره وکړه . هغه په خوشحالی سره او دخندا په څپوکی دا هم وویل چی انشاالله موږ به د راتلونکي کال د وزلوبی نداره په افغانستان کی وکوو .

---

دراشن اخیستل ورته ډیرمشکل دی .

نو دانځی دیو طرفه دنارینه د نه لرلو دپلوه په اقتصادی مشکلاتو اخته دی یعنی دکتنی وتی څوک نه لری اود بلی خوائی د راشن اخیستو او یا د راشن پاس د جوړولو کار هم نا ممکن دی .

پوهیږو اوباید په صراحت سره دا اقرار وکړو چه دپاکستان حکومت با وجود د خپلو محدودو وسایلو په پاکستان کی میشته مهاجرینو سره د هیڅ نوع مالی امداد څخه دریغ نه کړی . او څومره چه دپاکستان د حکومت په وس کی ده له هغه څخه زیاتی بی د مها جرو مشکلات او پرابلمونه حل کړی او کوی ئي .

خو کوم مشکل چه څوک ئي وینی باید هغه متعلقه خلکوته بنکاره کړی . څوننی ماشومان او میندی د صبا ورځی د افغانستان سره ډیر نږدی ارتباط لری همدادلن ورځي ماشومان دی چی راتونکی افغانستان به پالی او همدا د نن ورځي میندې دي چه دافغانستان دصبا ورځی پلرونه روزی که د دوی صحت تعلیم او تربیی ته نه که شرایط هر څومره سخت هم دی پاملرنه ونشی نو دا د انصاف نه لری دی . نو باید په دی برخه کی خپل دوست هیوادونه ، مؤسسات او تنظیمونه غوروکړی اوددی پرابلمونو دحل په برخه کی مثبت قدمونه اوچت کړی خصوصاً اسلامی هیوادونه او نور سوله خوښوونکی او بشردوست هیوادونه او مؤسسی را سخکی شی اوزمونږ د ورور اسلامی هیواد پاکستان سره په دی برخه کی په پراخه پیمانه کومک وکړی .

البته دا په هیڅ صورت سره د نږدی ماشومانو دقیقه اوپوره مطالعه نده چه تاسوته وړاندی شوه . دافقط یوه هڅه ده چه د پوهانو او لیکوالانو او نورو ذیعلاقه خلکو توجه ودی خواته راجلب کړو .

وسلام

غږ وال

# د ډیری مودی خپګان یې په خوښۍ بدل شو

ښاروالۍ به چې کله خپل ناتوان بدن ته وکتل ، نو ډېره به خپه شوه ، هغې د خوانۍ په وخت کې دا فکر هیڅکله نه شو کولای چې دومره به کمزورې کیږي اویا به نو دتیرې خوانۍ او د ځوانۍ نې د قوت ارمان کوي په تیره بیا کله به چې ددوی کډې باریدی اواوښانو به غږغږې کولې ، نو هغې به یوځل بیا د خپلې خوانۍ هغه وخت رایاد کړ چې په ایکی یو ځان به بې د خپلې کیږدۍ ټول سامان په اوښانو بار او د ایلبندونو په لور به له نورو کوچیانو سره یوځای په کاروال کې هسکه غرۍ روانه وه .

اوس به نو چې کډې باریدې ښاروالۍ به خپلو نږیندو ته وکتل او له هغوی سره به بې د او ښا نو په باروتو کې د خولې په خبرو او د لاسونو په اشارو مر سته کوله ، هغې په خپل ژوند کې ډیرې لوړې ژورې وهلې او ډیرې سړې تودې بې تیرې کړې وې ، خو یو وخت هم له خپل ژوند څخه مایوسه شوې نه وه . خالو اکا هم دخپلې میرمنې ښاروالۍ ځکه ډیرقدر کا وه چې د ژوند دبیل له لومړیو شیبو څخه یوځ د هغه د ژوند دیو ډیر پېچه مګرې په توګه دکور ډیرو درندو باروتو ته اوږه ورکړې وه او د کور نې ژوند زیات بارونې په غاړه اخستې و ، دواړو خاوند او میر منې د یو بل د ډیرو ښو مرستیالانو په توګه د ژوند په کیرو وړو پیچومو کې لاره و هله ، هغوی به چې کله له ایلبندونو څخه را ستنیدل نو ضرور به بې یو او یا دوه اوښان په زیړو غوړیو اوکورتو بار وو او تودو سیمو ته په راږسیدو سره به بې څه د ځان توښه کول او څه نا څه به بې پلورل تر څو دخپل ژوند احتیاجات پرې پوره کړې .

له څه مودې څخه را پدیخوا به چې چا د ښاروالۍ مخ ته وکتل نو دخپګان او تاثر نښې لښا نې به بې پکې و لیدې ، خو هیڅوک نه پوهیدل چې د خپګان علت به بې څه وي او نه هغې چا ته د خپل ، نتلې زړه دپټ خپګان رازښکاره کاوه کاه نا کله به چې خالو اکا د هغې دتندي ګونځو ته وکتل او د خپګان دیو ژور احساس څرک به بې پکې و لګا وه ، نو له ځان سره به بې وویل : خدایه ! له پو هیږم چې د شیرګل پر مور څه بلا رانازله شوې ده چې له څه‌مودې څخه را پدیخوا بې د تندي ګونځې نه خلاصیږي او له کور څخه بې دو زخ را ته جوړ کړې دی ، لکه چې دا ټوله ملامتیا می په نږیندو کې ده ، هو ! دلتنې زمانې پېځې دې ، د خوابې قدر نه کوي ، او کیدای شي د شیر ګل د مور په زړه کاروڼه به نه کیږي . د خالو اکا زړه چې ډیر را تنګ شو نو یوه ورځ بې دوا ډه نږ لدې را وغوښتې او د شیرګل د مور دپټ خپګان په باب بې تري وپوښتل ، هغوی دوا ډو یوې او بلې ته سره وکتل بیایې په ډیر ادب خپل خسر ته ځواب ورکړ : خدای (ج) شاهد دی ، په دې مودې هم له پو هیږو چې دابې د خپګان علت به څه وي . مور خو د هغې بې احترا می نه د کړې او نه مو د هغې د رضا خلاف

کار کړی دی ، په هر کار کی تري پوښته کوو او ایې هم په ډیره مینه په ټولو کارونو کی مشوره راکوي خو چی تندي ته یې گورو د خوښۍ څرک پکی نه لیدل کیږي ، او موږ هم ور سره خپه یو له ویرې پوښته هم تري نه شو کولای .

خالو اکا سوړ اسو یلی وکیښ ، خپل گریوان ته یې سر ښکته کړ له یو څه شیبی وروسته یې چې سر راپورته کړ نږیندو ته یې وویل : بچیانو ! خدای (ج) مو حیا و ساته زه باور لرم چې تاسو به لکه دلونږه شان د خپلې خوا پښې احترام کوی زه ډیر در نه خوښ یم ، خدای (ج) دې رانه رضاشي ،خو دومره خبره ده چې د ښارو د خپگان سبب هم باید و ومندل شي ، تاسو دواړه په هغې پسې شی او په څه چل د هغې د خپگان راز څان ته معلوم کړی .

وخت تیریدو او کوچیانو هماغه شان خپل کوچ ته دوام ورکا و ه کله به په ایلبندونو کی اوکله به په د ښتو او ږدیا ووکی تورو کیږدیدود سیمی ښکلاته نوی رنگ ورکړی و اود اوښانو غرغړو به په فضا کی انگازې کولی ، ماښام به چې رمی له څړ څایونو را ستنې شوې ، نود ورغومو او وریو آوازونو به توپان جوړکړی و اوهریو وري اوورغومي

ورسوی او په تې پوړې بې و نښلي خو د غو نندارو او منظرو هم لکه د پخوا په شان خو ند او کیف نه درلود او غوښه شوي زړونه ورسره نه غوړیدل ، په ټیره بیا ښارو ایې خو داسی په زړه داغلی وه چې تابه ویل په زړه کی بې سیخو نه پیلي دي دهغی به چې ډیر زړه تنگ شو نو دتورگل ماشوم زوی سپین گل به بې غیږې ته نږ دې کړ اود خپل ورک زوی مینه به یې پرې ماته کړه تورگل پنځه میا شتی کورته نه ځ را غلی او دوی داسی انگیر لی و ه چې دروسانو اود هغوی د غلا مانو په کوم چپاو کی به په شها دت رسیدلی وي . خو د هغه د مړي او ژوندې د ښتی لګو لو په ارمان بې شپې تیرولی ، د دوی کډه لا په ایلبندونو کی وه چې تور گل تري تم شوی و ، او اوس چې دسړې هوا به زاړسیدو سره تودو سیمو ته بارښدل

نو زړه نا زړه وو چې ده دوی و کوچیږي او تورگل کور ته راستون شي په هسی خوشی میړه نه و وړي او دا پته به و ر ته نه و ي چې موږ به کومه لار تللي بو اوچې ې مو اړولي دي ، خوبیاهم مجبورږدو چې تودو سیمو ته ځانونه ورسوی .

له ایلبندونونه ډکوچیانو کډې بار شوې ، داو ښا نو کتا رونه وو چې وړاندې ورو سته روان وواوزوله لاړه سرواوښانو نیولی وه . کوم وروکی ماشوم ، کومه بوډۍ ښځه او کوم بودا به چې دکمزورۍ له امله پلی نه شو تللی ، نو په اوښانو سپاره ؤ خو د خالو آکا کورنۍ لا هما غه شان په خپله میړه کی پاتې وه اوچې په ایلبندونو کی هیڅوک هم پا تې نه شول اوټوله ورشو خوشی پاتې شوه : نو خالو آکا هم شیر ګل را وغوښت دکډې دبارولواونه بارولو په باب یې مشوره ورسره وکړه ، شیر

کل هم چې د کشري ورور تور کل په نامه انديښمن و په دې برخه کې يې په څنګې توګه کومه فيصله نه شوه کولی ، نو يې مور هم د مشورې له پاره او غوښته تيرماسخټن ؤ ، چوپه چوپتيا وه د شپې تيارې خپل بيښول په غږونو او رغونو غوږولی ؤ ، په ټولهسيمه کې هيڅوک نه وو پاتې ، خو يوازې د خالواکا کورنۍ وه چې کله کله به يې د وزو او ميږو بغارو اود سپي غپا د سيمې چوپتيا ماته کړه ، د کيږدې تر مخ د سپږمۍ رڼا ته پلار ، مور او زوی سره ناست وو ، تر څو د کډې د پارولو په برخه کې تصميم ونيسي ، خو ناڅاپه ئې د کيږدې له هغه بل اړخ څخه سپي مخ په ښکته منډه کړه او داسې سخت سخت ئې وغپل چې تا به ويل له کوم ستر د ښمن سره مخامخ شوی دی ، د خالو اکا د کورنۍ د ټولو فکرونه هغې خواته متوجه شول ، شيرګل توپک را واخيست ګردنۍ ئې غاړې ته وا چوله او په سپي پسې مخ په ښکته روان شو سپي له کيږدې څخه څه پوره ليرې په يو خوږ کې ورو ورو غپل او شيرګل ځان ورنږدې کړ ، چې څه ور نږدې شو ، نو خبرې ئې تر غوږ شوې او دا مې ئې واکړه چې کوم غله راغلې دي [illegible] د دوی کورنۍ ولوټي نو د يوې ټرې تر شا ئې سنګر ونيو او خبر و ته غوږ غوږ شو ، خبرې ورو ورو را نيږدې کيدې او سپي هم سم ور سره را روان و ، څو قدمه وړته پاتې وو چې شيرګل ته را ورسيږي ، نو شيرګل خپل توپک ته کارتوس ورټير کړ او پر راتلونکو کسانو ئې غږ وکړ چې د ريږی . څوک يې چې په سره سينه دې خواته را روان يې ؟! تاسو لکه چې د شيرګل د توپک ډز نه دی اوريدلی اوس به مو په خوږونو کې وينې وبهيږي .

تورګل چې د خپل ورور خبرې وپيژندې او د ده له خولې ئې د شيرګل نوم واورېد ، سره وغوږيد او په ډيره بې صبرۍ ئې ځواب ورکړ : لالا مو بې يو ګوره چې ډزې نه کړي، رښتيا پلار اومورمې څنګه دې ناروغ خو به نه وي او سپين ګل زوی مې . . ؟؟؟ شيرګل چې د ورور له ديدن څخه نا اميده شوی و ، نو له خولې ئې وو تل : تورګل ! ها زما ورک ورور تورګل ! دا څه اورم ، خوب وئيم که رښتيا هم په دې توره تيارې کې زما د اميدونو ډيوه بله شوه ، دواړه ورونه سره غاړه غړۍ شول او يوه بله شيبه ئې يو او بل په غيږ کې ټينګل و ، دوی چې د ورورتګه مينه سره ماته کړه ، نو تورګل خپل مجاهد ملګري يو په بل پسې ورپيژندل :

لالا دا زما مجاهد سنګر ورونه دي ، دغه يو چې ګل احمد نومېږي زمږ د ګروپ قوماندان دي او دا نور دوه هر يو ګل ضمير او ظريف خان تکړه مجاهدين دي چې د دوی د سرښندنو له برکته تر اوسه پورې روسانو او د دوی غلامانو ته ډېره د خوند تلفات رسيدلي دي .

دواړه ورونه لا په خبرو خبرو کې وو چې پلار بې پرې را غږ کړ : شيرګله زويه دا څوک دي او څه غواړي ؟؟ دلته کيږدې ته ئې د ر سره راوله څه چې غواړي دلته به په خبره سره پوه شو هلته بې ځايه له خلکو سره مه ايسارېږه ، د دې پر ځای چې شيرګل د پلار د خبرې ځواب ورکړي تورګل بې واره په ځواب کې ورته وويل : پلاره دا دی در روان يو ته مه وارخطا کيږه هسې زه او لالا مې په خبرو خبرو کې سره وځنديدو .

خالو اکا خو لومړی شکمن غوندې شو ، خو چې ښه ورته متوجه شو د تورګل خبرې ئې وپيژندې ښارو ابې ته ئې مخ راواړاوه غوښتل ئې چې څه ورته ووايی ، خو هغې دواړه لاسونه د خدای (ج) دربار ته په دوعا ګيلي وو او د ورک زوی د پيدا کيدو شکرانه ئې پر ځای کاوه .

تورګل له خپلو ملګرو څخه را
دمخه شو او چې موریې ځان رسولی
سماوه نو ده یې غیږې ته ځان رسولی
و ، د مور لاسونه یې ښکل کړل او
بیا یې د پلار لاسونه په ستر ګو پسې
و منبل ، یوه ښه شیبه یې د مور او
پلار په منځ کې تیره کړه اویا کیږ دمه
ته ننوت چې خپل ماشوم زوی
سپین ګل او د کور نور لوی واړه
وګوري چې په دې کې شیر ګل هم له
میلمنو سره را ورسید خالو آکا دري
واړه مجاهدین ییل ییل په غیږ کې
ونیول او د مینې روغبړ یې ورسره
وکړ بیا رو ایږ هم دري واړو
مجاهدینو ته هر کلی ووایه او د خپلو
زامنو په شان یې و نازول ، دکیږدمه
په ښکته ارخ کې یې په یو اوار
ځای باندې کالي ورته واچول او د
دودۍ بندو بست یې ورته وکړ .

د مجاهدینو دګروپ قوماندان ګل ـ
احمد خالو آکاته مخ راواړاوه او د
هغه د خوشحالۍ په غرض یې ورته
وویل : آکا شکر دی چې خدای(ج)
داسی مجاهد زوی درکړی دی ، نن
چې د وطن په هر نر او ښځه باندې
جهاد فرض عین ګرځیدلی دی ، نن
چې زمونږ مقدس دین دکفر تر خطر
لاندې راغلی دی او نن چې زمونږ
د وطن آزادي په خطر کې لویدلی
ده ، نو د وطن د ځوانانو وظیفه ده
چې په دې مقدسه لارکې خپلې تولې

هلی ځلی پکار واچوی ، هغه پلار
به بختوروي چې په دې حساسو
شیبوکې دتورګل غوندې مجاهد زامن
د جهاد سنګر ته ورانديږ کړي ، زه
تاسوته داد درکوم چې تورګل د
جهاد په دې خو میاشتنۍ موده کې
په روسانو باندې خپله خواښه سره
کړې ده که څه هم مونږ او پخپله
تورګل کوښښ کاوه چې په دې موده
کې تاسوته لیک او یا کوم ځواب
را ولیږو ، خو باور وکړی چه یوه
ورځ هم له عملیاتو ځخه نه یو
وزګار شوي بله دا چې داسی باوري

ځوک نه پیدا کیدل چې ستاسو د داد
له پاره هغه پلاس کوم خبر راو لیږو
مونږ یقین لرو چې تاسو باندې به
له دې پاوه ډیر خپګان تیر شوی وي
دغه ستاسو خپګان هم د خدای(ج)
په درباركې لوی اجر لري .

د قوماندان صاحب خبرې لا نه
وې خلاص شوی چې دلاسونو د
مینځلو له پاره اوبه راوړل شوې

په کور تو کې یې دو ډ که وه
کړې وه او زیږ غو ږې یې پرې
اچولی وو ، خالو آکا میلمنو ته مخ
را وګرځاوه ،غاړه یې تازه کړه اوورته
وې ویل : کوماندان صیب ! ستاسو
له پاره خو ډیر څه کول پکار وو
مګر مثل یې کړی دی چې« څه تیار
هغه دیار » نو هر څه چې دي سره
خوږو به یې ، قوماندان صاحب ورته
وخندل او په خندا خندا کې یې ځواب
ورکړ : آکا د زیږو غوږ یو مقابله یو
نعمت هم نشي کولای ، په تیره بیا

دجهاد په سنګرو وکې ، خوکله کله
مجاهدین وچه دودۍ هم په تکلیف پیدا
کوي ،نوان چې کورت اوزیږ غوږي
مخکې را ته ایښي دي باور و کړی
که دغه خوند او مزه مو په تیرو ځو
کلو نو کې هم څکلې وي ، خدای
(ج) دې تاسو ته برکت درکړي ،
مونږ ستړي هم یو د غه زیږ غوږي
به مو څه نا څه تکور کړي . رغتیا

د نور ګل خبره مې کوله ، دې چې پښه مې ښه شي مخکې زمونږ له ګروپ سره ملګري شو ، که څه هم په لو- ړۍ سرکې مو سره نه پیژ ندل ، خو چې ده خپله شجره راته تیره کړه او په جهاد کې د برخې اخیستو په باب یې خپله مینه وښوده له نو مونږ سره ده شوو او دې مو پخپل ګروپ کې د مجاهد په حیث وما نه یا ده غو ښتل چې تاسو هم پخپله دغه پاکه اراده خبر کړي ، خو سمدلاسه مو مهم عملیات په مخکې وو اودې په هغو عملیا تو کې را سره بوخت شو او چې له هغو عملیا تو څخه خلاصیدو یا زمونږ ګروپ تهوظیفه راکړل شوه چې ډیمنې ته لاړ شواو هلته په مهموعملیاتوکې برخه واخلو چې د ټولو مجاهدینو دګډ پلان له مخې د روسانو په یوه مهمه قرارګاه باندې په نظر کې نیول شوي وو . نو ځکه مو ددې وخت بیدا نه کړ چې تور ګل کور ته را شي او نه تاسو څخه رخصت واخلي .

خالو اکا په سره سینه د قو- ماندان ګل احمد خبرې واوریدې نو ددې له پاره چې د دوی جهادي هلې ځلې ښې ستایلې وي. هغه ته یې په ځواب کې وویل : خدای (ج) دې تاسو دغه هلې ځلې او مینې تر ې پخپل دربار کې قبولې کړي او په خوانو ملګرو کې دې خدای (ج) برکت درواچوي چې شپه اوورځ موپرځانونو یوه کړې ده اوله روسانومو لاړه ورکه کړې ده ، زه په دې ډیر خوښ شوم چې زوې مې تورګل په دغه پاک نیت خپل ټول کارونه پرایښې او د جهاد سنګر ته یې دانګلی دي ، خو مونږ نه پوهیدو چې رښتیا به هم ده د جهاد لاره نیولې وي ، مونږ انګیرلې وه چې په کومه بمبارۍ او یا د روسالو په کوم بل چاپو کې به شهید شوی وي نو له دې امله لږ ځه اند یښنه را باندې تیره شوه ، په تیره بیامور خو یې دومره غمجنه وه چې په دې پنځو میاشتوکې یې په تندې کې د خوښۍ څرک نه دې لیدل شوی ، نو اوس چې تاسو په خیر را غلئ ، مونږ هم داده شوو او د تورګل مور به هم لږ ځه د آرام ساه واخلی ، تاسو ګوري چې په ایلبندونو کې هیڅوک هم نه دي پاتې یوازې زما کورنۍ ده چې په دې خوښۍ میره کې پاتې ده دا ځکه مونږ فکر کاوه چې که تورګل را شي . نو یا به سرګردان کیږي نه ، همدا اوس څو شیبې مخکې چې تاسو لانه وی رارسیدلي مونږ په دې باب مشوره کوله چې څه وکړو ایا کوم بار کړو که پاتې شو ، خو مونږ لا فیصلې ته نه وو رسیدلی چې تاسو را ورسیدی .

بیارو ابې خو د زوی په لاسو خو شحا له شوه او د ډیرې مودې د بیلتا نه په اور یې سړی او به تویې شوی خو په تندي کې یې د خپګان نښې ښکاره ې لا هماغه شان له ورایه ښکاریدی او په ژوندانه کې یې چندان بدلون رانغی دوی یوه هفته نوره هم په ایلبندونو کې تیره کړه تر څو تورګل او نور مجاهد ملګري یې دمه شي بیا یې نو د کډې د بارولو تصمیم ونیو ، د سهار له چای خورلو وروسته خالو اکا قوماندان ګل احمد ته مخ وروړاوه ورته وې وېل : کوماندان صیبه ! مونږ نن د کډې د بارولو فیصله کړې ده ، دا څو ورځې مو ستاسو د ستړ یا د رفع کولو لپاره د لته تیرې کړې او س چې تاسو دمه شوی ، نوکه خو ښه مو وي مونږ به خپل کا رو نه سره برابر کړو ، قو ما ندان ګل احمد خبروته ځان جوړاوه چې تورګل‌ترې دمخه‌شوپه ډیر ادب یې‌پلارته وویل: مونږ هم اراده لرو چې همدانن‌له‌خپلو مجاهد ینو وروڼو سره د کړې وعدې له مخې ستاسو له حضور نه رخصت شو هغوی به مونږ ته انتظار لری . شکردی چې‌تاسوتول مي روغ او جوړ ولیدی انشاءالله که ژوندون وي زه به بیا کوم وخت هغې زړې میرې نه‌ځان ور ورسوم ، خو که شهیدشم

سو بې وبخښې اوس په ډيره مينه اجازه راکړې ، تاسوبه هم په لوی خدای (ج) وسپارم ماته هم دو عا کوی او په خدای (ج)مې وسپاری .

مجاهدين په ډيره مينه د خالوا کا د کورنۍ د دوعاووپه څپو کې رخصت شول ، تور ګل دمور او پلار لاسو نه ښکل کړل خپل ماشوم زوی سورګل يې په غيږ کې ونيو او يوه ښه شيبه يې دهغه سترګوته کتل پيايې شيرګل ته غيږ ورکړه او چې ددوی خدای پامانې خلاصه شوه ، نويو ځل بيائې ګيږدی ته سر د ننه کړاو دورو ستی ځل له پاره يې په ستر ګو سترګوکې لهخپلې ورينډ اری او ميرمنې څخه خدای پاما مانې واخسته او لهمجا - هدو ملګرو سره مخ په ښکته روان شو .

پلار ، مور او د کورنۍ ټولوغړيو په دو عا لاسونه نيولی وو او تر هغه پورې يې لاسونه ښکته نکړل چې تور ګل او مجاهد ملګری يې له سترګو پناه شول ،له دی وروسته خالو آ کا په شير ګل غږ وکړ چې زو يه اوس نو وخت له لاسه مه ورکوی د کډې په بارولو لاس پورې کړی لاري هم چندان داعتبار ورنه دي ، که په نورو کډو پسې ونه رسيږو ، کيدای شی په ځانګړی توګه د روسانو له کوم تارا کسره مخامخ شو او بيابه مو دلاسه هيڅ نه کيږی د تور ګل دې خدای (ج) مل شی ډيره ښه لاريې موند لی ده زماهم دا آرزو وه چې که ټوله کور نی په جهاد کې برخه لهشو اخستلای ، نو يوزوی خو مې بايد د جهاد په سنګر کې ولاړ وی .

اوښان بار شول دوزو او ميږو رمه شيرګل د مخه کړه او خالو آکا لهاوښانو سره وروورو مخ په ښکته روان و ، ښارو ابې دبار کړی اوښې د پاسه ناسته او سورګل يې په غيږ کې نيولی و ، دواړه نږ يندی يې تر شا روانې وی ، تنکې غرمه وه چه دغه کوچنی کاروان لهيوه تنګی دری څخه راووت او چه لوړ ماز - ديګر راتلو ، نو دوی بيا ديخ کاريز شاو خواته رسيدلی وو ، هلته يې او ښان واړول اوکيږدی يې ودروله د شپې له لپاره يې د دودۍ پخولو بندو بست وکړ ، خالو آکا ډډه وهلی وه او د ښارو ابې مخ ته يې کتل چې لاهما غه شان د يو ژور خفګان نهې نښانې پکې ليدل کيږی له ځان سره يې وويل : اوس خويې ورک زوی هم پيداشو نو دا دتندی ګونځې بې ولی نه خلا صيږي، دا خو لاپريږده چې زوی يې بيا جهاد ته ولاړ او را څخه ييل شو ، هغه چې په کور کې وهم ددی همد غه حال و ، او يوه ورځ موهم ددې له لاسه په ارام زړه دودۍ ونه خوړه .

دوی چه دځو ورځو مزله څخه وروسته شاه جوی ته ورسيدل ، نو د کابل کندهار عمو مي سړک ته نږدې بې په يو کاريز کيږدی و درو له ، شيرګل لارمه نه وه رارسولی اوخالو آکا هم اوښان د څړ له پاره هغې نږدې دښتې ته بوتلل ، ښاروابې لهسورګل سره دزړه خواله کوله اونږيندی يې دکور په کار بوختې وې چې دکابل له لوري يو روسی کاروان راورسيد د روسا نو د کار وان د سر په ټانګ کې تخنيکی عوارض پيدا شول او ټول کار وان ورسره ودريد ، په ټانکو نو او لاريو کې سپاره روسان راښکته شول او د سړک په دواړو غاړو کې خواره شول ، يو روسي مشاور چې کلاکوف ، توپانچه او يوه پايه مخابره هم ورسره وه دکيږدی په لوړ مخه وکړه او ورو ورو کيږدی ته ورنږدې شو ، ښارو ابې چې په روسي سترګې ولګيدې ، نو سپی بې راتو کړ خو سپی له شيرګل سره په رمه کې پاتې و او ددوی په ښه رانغې ، نو نږيندو ته يې وويل : لونو تاسو ګورې چې هغه دی مخامخ يو روسی راروان دی ، خو پام کړی چې همت له لاسه ورنه کړی ، ماچې څه کول

تاسو بهم هما غه کار کو ی ، هله ژر شی تبرونه راواخلی اود کیږدی نر پتونو لاندې یی څرګند کیږدی

دبارو ابی خبر پ لا نه وې خلاصی چی روسی مشاور کیږدی ته‌راورسید او پرته له‌دې چی کومه ویره یی په زړه کی پیدا شي په روسي ژ به یی څه ورته وویل ، بارو ابی یوه خوا او بله خوا وکتل او د الله اکبر له ناړې سره سم یی په‌تبر باندې‌وواهه چی نیم سر یی مات شر روسي مشاور کلاکوف ته لاس کړ ، خودبارو ابی نږیندو پیا له یوې خوا او بلی خوا دتبرونو تر ګوزارونو لاندې ونیواو په څمکه یی راوپرزاوه ، چی په دې توګه یی لسه یـو ې خـــوا یو میل کلاکوف تو پک ، یو میل د تې تې توپانچه اویو سیټ مخابره ولجه کړه او له‌بلی خوا بی په‌مقدس جهاد کی برخه واخیستلی شوه ،دوی چی روسی مشاور وواژه ، نو سمدلاسه یی‌په‌تویو شو یو و ینو خاورې وپاشلی او د روسي مړی یی تر پرستنو او څنګونو لاندې پټ کړ .

د روسانو کاروان چی تګ ته اتیار شو ، نو وبی لیدل چی یو مشاور نشته ، یو خوا او بل خوا یی پسی وځغاستل ، خو څه پته یی و نه لګیده یې څو تنه کیږدی ته ولیږل

خو بارو ابی په اشارو اشارو کی پهدې وپوهول چی سوې په څه باندې نه یو خبر ، دروسانو دکاروان مشر له ډیرو پلټنو وړوسته په دې باوري شو چی کیدای شـــي چـــی مشاور مجاهدینو ته دځان سپارلو په غرض هغـوی تـه پنا ه وړې وي ، نو یـی کا ر و ا ن تـــه د روانیدو قوماندہ ورکړه .

خالو آکا چی لږ شیبه وروسته د کور حالات څه بل شانی ولیدل اوچی کورته راغی دبارو ابی تندې ته یی وکتل نو هغه یخوانی خنګان او تا ثر یی پکی ونه لید ، پـوه شو چی څه داسی توې پیښه ډوې دمچی دبارو په حالت کی‌یی بدلون راوسنی دی ، نوبی‌اردی یی تړې وپوښتل:د شیرګل مورې ! ټن خو دی په تندې کی ګوڼی نه ښکاري ، که څه هم زه ډیر ستړی یم ، خو چی سنا سترګه گورم او دیخوانې خپګان نښې‌نښانی پکی نه‌وینم نوڅوله سنوسانی می له منځه ولاړه او خدای (ج) شته چی اوس بالکل د ستړیا احساس نه کوم بارو ابی پهسترګوستر ګوکی نږیندې په دې وپوهولی چی روسی مشاور له‌پرستنو اوخلونو څخه راوباسي‌اوهم کلاکوف توپک ، دتې‌تې توپانچه او مخابره راواخلي ترڅو دخوښی سبب په خپلو ستر ګو وګوري ، خالو آکا

چی روسی مشاور په‌وینو کی لت‌پت سړ ولید نود خدای (ج) شکر بی ادا کړ او بی ارادې بی له خولی ووتل خدایه ! شکر ، دغه میړانه زما بوډی میرمنی کړې ده ، دا څه وښم جنت می کیږ د ی ته راغلی د ی ا و ز ه دې لـــه د غـه ستر نعمت څخه محروم کړم .

لهخالو آکا سره دا ویره ومچې نه روسان په دې و پوهیږي چی مشاور بی سو ې وژلی د ی ، زمو ږ کورنی به ټو له وسوځوي ، نو ښه داده چی لهدې ځایه بار شو او شپه په شپه کو م بـل ځا ی تـه ځانونه ورسوو ، له خپلی میرمنی او نږیندو سره یی هم سلا وکړه او د اوښانو

په بارولو یی لاس پورې کړ دوی چی اوښان بارول نو شیرګل هم له خپلی ز می سر ه راورسید او چی په

جریان خبر شونو هغههم‌د خدای(ج) شکر ادا کړ ا و شپه په شپه له دې

ځا یه وکوچیدل ، او له د ې ورځی وروسته بیا دبارو ابی په تندې کی

چا د خپګان نښـی او نښانی و نـه لیدې .

مرکه کړونکی: غ ر وال

# له مجاهد قوماندان قاری عبدالله سره مرکه

موږ له خپلو قهرمانو مجاهدینو سره د مرکو او مصاحبو په لړ کې د اتحاد د مجاهدینو محترم لوستونکي له یوه ځوان، د پخې ارادې خاوند او مجاهد شخصیت سره آشنا کوو او غواړو چې دده په خوله د ده له نامه او پیژندنې سره پلد شي. نو له دغه پیاوړي قوماندان څخه زما لومړۍ پوښتنه داوه چې خپل ځان د مجاهدینو محترمو لوستونکو ته وروپیژني:

ده په داسي حال کې چې په شونډو یې مسکا خوره شوه. او پخپله ګڼه ګونه پیره کې یې ګوتې وهلې داسي وویل: نوم مې قاري عبدالله کریمي دی، د مولوي عبدالقدیر زوی یم چې په (۱۳۳۶) کال د غزني ولایت د «ده یک» دولسوالۍ د جان آباد د کلي په یوه عالمه، دینداره او وطندوسته کورنۍ کې زیږیدلی یم. دیني تعلیمات می د غزني ولایت په نورالمدارس فاروقي (رض) کې د هیواد ډیرو علماو تر نظارت لاندې سر ته رسولي او قرآن عظیم الشان حافظ یم په داسي حال کې چې قاري صاحب خپلې خبرې لا نه وي خلاصې کړي مانې خبرې ورغوښتې کړې او د ده د جهاد د پیل دعلتونو اود جهاد د پیل دوخت په باب یې تري وپوښتل نو ده یا هم اوږده ساه وکښله او په شمیر لوکلما تو یې زما د پوښتنې ځواب داسي پیل کړ:

مخکې له دې چې په ګران هیواد افغانستان کې خلقیان اوپر چمیان د روسانو په مستقیم ملاتړ کمونستي کودتا وکړي، موږ د نور المدارس طالب العلمانو دهیواد دنورو علماؤ له حلقو سره په ارتباط د خدام الفرقان په نامه یو تحریک او منظم تشکیل درلود اوکوښښ مودا و چې په هیواد کې د خپلو دیني او اسلامي هلوځلو په برکت د کفر او الحاد د خپریدو مخه ونیسو، خوله بده مرغه خلقیان او پرچمیان دروسانو په مرسته له موږ څخه مخکې شول او په هیواد کې ئې کمونستي کودتا وکړه، ددې له پاره چې وخت موله لاسه نه وي ورکړي نو له کودتا سره سم موږ خپلې جهادي هلې ځلې پیل کړې اود دې له پاره چې سمدلاسه زموږ د جهادي هلو ځلو په مخکې خنډونه نه وي پیداشوي نو د کودتا په پنځمه ورځ له خپلو ځلوښتو تنو طالبانو وروڼو سره دوطن پریښودلو ته مجبور شوو تر څو د یو منظم پلان له مخې پر دښمن باندې د عملیاتو پروګرامونه عیار کړو، موږ د (۱۳۵۷) کال د روژې په مبارکه میاشت کې وکړای شول چې دګیرو په علاقه داریکه بریالي عملیات تر سره کړو چې په دې عملیاتو کې د دښمن لږ تر لږه **شپیته** تنه کمونسټ ووژل شول او **میاته**

زموږ روحانی مشر او افغانستان د ملي اسلامي محاذ رهبر پیر سید احمد گیلاني په میرانشاه کی د مجاهدینو مهاجرینو او انصارو یوې درندې غونډې ته وویل :

# موږ باید په یووالی او اتحاد سره په یو صف کې د دښمن مقابله وکړو

**بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلی علی رسوله - الکریم وقائد المجاهدین والمهاجرین اما بعد :**

زما گرانو مجاهدینو ، مهاجرینو مجاهدینو، مهاجرینو او انصارووروڼو ته د جهاد په باره کی څو خبرې وکړم . لکه چې تاسی هم خبر یاست او پوره پوهیږی چې د دښمن په دې وروستیو وختونو کی ډیر زور لګولی او زموږ سنګرونو ته یې ډیر زیانونه اړولي دي . خو له خپلو زړورو مجاهدو وروڼو څخه زما هیله داده چې په دې وروستی وخت کی د خپل مسئولیت په وړاندې غافل پاتی نه شي او یوه شیبه هم کښینی

او انصارو وروڼو السلام علیکم. دا زما له پاره ډیر د خوشحالی ځای دی چې تاسو سره هم وخت مساعد شو څو خپلو ورونو او په اسلام مینو دی څو دښمن ته د بري هیڅ ډول موقع په لاس ورنه شي .

تاسو ته پوره ښکاره ده چې په پکتیا کی له ډیر وخت څخه راهیسی

وسله زمونږ لاس ته را غله ، اوهمداسې رنګه زمونږ د مجاهدينو د يوګروپ قوماندان دلوګر دولايت اوسيدونکی مجاهد ملا عبدالصمد دشهادت دجام په پورته کو لو سره په سيمه کی د شهداؤ د کاروان د سالار افتخار تر لاسه کړ .

(انا لله وانا اليه راجعون)

ماتری بيا پوښتنه وکړه :

په دې توګه چې اوس روسانو او دهغوی غلامانو د جګړې تاکتيک بدل کړی دی يعنی داچې پخوا به يوه مجهزه او ستره قوه يوې سيمې ته لاړه اوهغه سيمه به بې تر عمومی چاپو لاندې ونيوه ، خو په مقابل کی به د مجاهدينو د پولادي ګوزارونو په نتيجه کی دزياتو تلفاتو په زغملو سره له ماتی سره مخامخ شوه ، خو اوس بې دجګړې ترتيب څه بدل دی نو تاسو د دوی د دغه جنګی تاکتيک په باب څه نظر لرئ اوآيا مجاهدين هم د دوی د دغه نوي تاکتيک متوجه دي اوکه ځنګه ؟

قهرمان قوماندان په داسی حال کی چې د مجاهدينو په تدبر اوزړه ورتيا داډ من او باوري ښکاره کيدو خپلې خبرې داسی پيل کړې :

رښتيا هم چې دښمن د جنګ تاکتيک بدل کړی دی او هغه په دې ډګر ه چې زياتره وخت د کمين نيو لو په توګه ځينې عمليات اجرا کوي ، خو الحمد لله مجاهدين د دوی د دغه انسانی ضد تاکتيک ته ډير ژرمتوجه شول اوپه هرځای کی بی د دښمن له خوا نيول شوی کمينونه ترخپلو کمينونو لاندې راوستل او د دې پر ځای چې مجاهدينو ته تلفات ورسيږی پخپله روسانو اود هغوی غلامانو ته ډير تلفات و رسيدل او لا به ورته رسيږی ، خو سره له دې هم د دښمن د دغه تاکتيک ته دوام ورکوي ، اما موږ باوري يو چې دلوی خدای(ج) په مرسته به دوی په دی تاکتيکونو ماتی وخوري ، بله داچې اوس روسان اود هغوی ګوډاګيان د مجاهدينو پر مرکزونو ، قرار ګاوو او سنګرونو باندې چريکی عمليات اجرا کوی ، خو په دې کار کی بی هم چندان ګټه نه ده کړې اوهرځل د مجاهدينو د پولادی ګوزارونو په نتيجه کی د زياتو مالي او ځاني تاوانونو په زغملو سره په ماتی مجبور شوي دي سر بيره پر دې د دښمن اوس د ليږي ويشتونکو درندو وسلو په استعمال سره د مجاهدينو مرکزونه اوکليوالی سيمی تر اور لاندې نيسی ، خو دا چې مجاهدين د خپل حفاظت له پاره لازم تدابير نيولي دي نوځکه له دی امله چندان تلفات نه شي ورته رسولی ، خو دکليوالوخلکو تلفات ځکه ورسره زيات شوي دي چې هغوی دځانونو دخوندي کولو له پاره مؤثراقدامات نه شي کولای ځکه چې دماشومانو سپين ږيرو او ښځو سنبا لو ل دومره آسان کار نه دی .

له ا تل قوماندان قاري عبدالله کريمی صاحب څخه زما له پوښتنه دا وه چې په دې ورو ستيو وختونو کی روسانو د خپلو غلامانو په خوله دملي روغی جوړې اوائتلافی حکومت ډنډورې پيل کړي دي ، تاسو دجهاد دسنګر ديو وتلي قوماندان په توګه د دوی د غه نوې د سيسه څر نګه خيږی :

قوماندان صا حب په داسی حال کی چې دژور فکر په ځپو کی تللی ؤ سر را پو ر ته کړ اوخپلو خبروته بی داسی دوام ورکړ .

داخو هرچاته معلومه ده چې دثور له کمو نستي کودتا څخه راپديخوا روسانو اود هغوی غلا مانو ډير ډ اسی د سيسو او نيرنګونو ته لاس واچاوه چې که وکړای شي د هغو په واسطه د افغانستان مجاهد اومسلمان ملت ايل کړي خو الحمد لله دوی هره د سيسه په خپل وخت دآيمان اوپخی عقيدې په قوت ور شنده کړای شوه اوس چې دښمن د ملي روغی جوړې او ائتلافی حکو مت دنوې د سيسی کومی ډنډورې پيل کړي دي ، نو زه د جهاد د سنګردپو کوچنی مجاهد په توګه داډه يم چې انشاءالله دغه د سيسه هم ناکامه ده لکه چې موږ ای

په سترګو وینوا وډیرې نورې دسیسې به یې هم دلوی خدای (ج په مرسته له ناکامۍ سره مخامخ کیږی دا ځکه په پښتو کې متل دی وایی چې : « یوسړی چاپه کلی کې نه پریښوده ده ویل چې وسله می د ملک کړه کیږدی » . مجاهد ملت دخلقیانو او پرچمیانو واکمني اوسیاسی موجودیت نه مني ، نوله هغوی سره روغه جوړه او یا له هغوی سره ائتلافی حکومت جوړول له عقل او فکر نه ډیره لیرې خبره ده ، موږ وینو چې د دښمن د دغې ناکامۍ دسیسې د ډنډورو له پیل ځخه را پدیخوا د افغانستان په تولو سنګرونو کې نه یوازې د مجاهدینو پولادی ګوزارونه زیات شوي دي بلکې د دښمن په وحشت او بربریت کې هم ځوړ ، ابره زیاتوالی راغلی دی په تیره بیا د ولسي او کلیوالو خلکو تلفات په دې موده کې په سلو کې له سلو ځخه هم اوښتي دي ، همدارنګه زما په نظر روغه جوړه خو له هغه چا سره کیدای شي چې سیاسي مستقل تشخص اوملي اسلامي حیثیت ولري ، زموږ په خاوره روسانو تیری کړی دی . خلقیان او پرچمیان خود روسانو بې واکه غلامان دي چې زموږ په سلګونو زره خلک بې قتل عام کړي دي موږ څه د ډول کولی شو چې دیو متجاوز ځواک د بې واکه غلامانو او د خپل مجاهد ولس له قاتلینو سره روغه جوړه وکړو ؟ دا هیڅ کله امکان نه لري .

ما ترې بیا وپوښتل چې د جهادي تنظیمونو ترمنځ ددې وروستني اتحاد په باره کې څه نظر لرې ؟ ده په ځواب کې وویل :

دا خو جوته خبره ده چې د افغانستان قهرمان او مسلمان ملت آن د جهاد له پیل ځخه د اتحاد او یووالی غوښتونکی دی اود وسله وال سنګر د مجاهدینو او در دید لو مهاجرینو یوازینۍ آرزو د مجاهدینو د مشرانو ترمنځ واقعي یووالی او اتحاد دی ، نن چې زموږ مشران د مجاهد ملت له غوښتنې سره سم دیو واقعي اتحاد په کولو بریالي شول نه یوازې زموږ دزیاتی خوښۍ سبب دی بلکې د مجاهدینو حوصلی هم ورسره زیاتی شوې ، خو له محترمو مشرانو ځخه زموږ هیله داده چې دغه اتحاد باید وروستی او همیشنی اتحاد وي اودغه اتحاد باید یوازې په دفترونو او جلسو کې منحصر پاتی نه شي بلکې جبهاتو اوسنګرونو ته هم غزونی وکړي ، که څه هم په تولو سنګرونو کې د حق د لارې مجاهدین سره متحد دي ، خو که د جنګ قوماندې یوه شي دا بسه د مجاهدینو او د مقدس جهاد په لابریالیتوب تمامه شي .

له محترم قاري عبدالله ځخه زما بله پوښتنه دا وه چې که چیرې ستاسو له وینا سره سم دجهاد په مقدسو سنګرونو کې دجنګ قوماندې یوه شي آیا دغه کار به د مجاهدینو له پاره بریالیتوبونه له ځان سره ولري ؟

قوماندان صاحب وخندل او د خندا په ځوکې یې خپلې خبرې داسې پیل کړې : موږ تول مجاهدین په دې باور لرو چې که دجنګ قوماندې یوه شي ، نو روسان او د هغوی غلامان خلقیان او پرچمیان به انشاءالله دیر ژر له حتمي ماتی سره مخامخ شي ځکه چې خدای تعالی (ج) پخپله فرمایلي دی چې « وعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقو » نو دخدای تعالی (ج) په دغه مبارک کلام باندې په ایمان لرلو سره موږ داده یو چې که ریښتیا هم زموږ ترمنځ واقعي یووالی موجود وي نو موږ بریالي یو ، ځکه موږ د جهاد په دې اوږده موده کې په تجربه ثابته کړې ده کله چې موږ د تولو جبهاتو او یا لږ تر لږه دځو جبهاتو مجاهدینو د عملیاتو له پاره ګډ پلان طرح کړی دی ، نود خدای (ج) په مرسته په هغو عملیاتو کې زموږ بشپړ بری په نصیب شوی او دښمن ته موماتی ورکړې ده ، د مثال په توګه په ۱۳۶۳ کال

کی کله چی په «رامک» کی دد ښمن پر پوسته باندې دمجاهدینو دیو ځانګړي ګروپ عملیات روان وو ، نو د ښمن ته چندان تلفات نه رسیدل ، خو په کومه ورځ چې مونږ دحزب اسلامي دمجاهدینو لږیو ګروپ سره د اتحاد لاس ورکړ او یو ګروپ مجاهدین مو په یوه قوماندې پر پوسته باندې دعملیاتو له پاره وګمارل نو په هماغه ورځ مو پوسته له دښمنه یوورځ او بری

دغه غوښتنه په پام کې ونیسي او دجنګ قوماندې یوه کړي .

له قاري عبدالله څخه می بیا اوښتنه وکړه چې تاسی خپلې جهاد دی چارې څنګه پر مخ بیائی ؟ په ځواب کې یې راته وویل :

ما دجهاد له پیل څخه کوښښ کړی دی چې ټول جهادی فعالیتونه د مجاهدینو او سیمې خلکو په سلاح او مشوره پر مخ بوځم چې همداوس چې دمجاهدینود ګروپونو قوماندانانو او دهغوی د معاونینو څخه مشکله ده ، دوی دجهاد ورځنی فعالیتونه ځیړي او د جهاد پلانونه تر تیږوی همدارنګه مونږ یوه نظامی شورالرو چې دغه شورا په سنګرونو کې د مجاهدینو عملیات عیار وي او پرمخ یې بیایي ، سرپیره پردې زه کوښښ کوم له خپل هر مجاهد څخه د مخه ځان د خطر ځای ته ور سوم او زما

دا هم په افغانستان کې د روسانو د ماتې او رسوائۍ یوه نمونه

د مجاهدینو په نصیب شو ، نو زه د جهاد دسنګر د یو سپاهي په توګه له خپلو قدرمنو مشرانو څخه دا هیله لرم چې له هر څه نه د مخه د جهاد د سنګر و نو د سرښندونکو هم مونږ پخپله جهادی سیمه کې د علمائی کرامو یوه شورالرو چې د جهاد ټول مسائل ددوی د فیصلو په رڼا کې حل او فصل کیږی ، د دې په څنګ کې مونږ یوه اجرائیه شورا لرو هیله داده چې زما مجاهدین له خطر څخه بچ وی .

ما بیا هم خپلو پوښتنو ته دوام ورکړ په داسی حال کې چې قوماندان صاحب په خپل تیز نظر زما د کاغذ

پاتو ته کتل ماتري وپوښتل :داسی معلو ميږي چی ستا سو له جهادی سيمی څخه چا هجرت نه دی کړی او ټول کليوال خلک په خپلو کليو او بانډو کی او سيږی او د يوی آزادي سيمی په‌تو گه د کفر اوالحاد له وا کمنی څخه پرته خپل آزا د ژوند ته دوام ور کوي ، آيا تاسو د سيمی د عمومي قوماندان په توگه د هغوی دورځني ژوند د اړ تياو د پوره کولو او د هغوی د ما شومانو د تعليم او تربي په برخه کی څه تجويز نيولی دی .

ده بيا هم د خدای (ج) په لوی در بار کی بی پايانه شکرونه‌ادا کړل او خپلی خبرې بی داسی پيل کړې رښتيا هم چی زمونږ د جهادی سيمی او سيدونکو هجرت ندی کړی اوټول پخپله سيمی کی آزاد ژو ند کو ي نو ددي له پاره چی دوی د ورځنيو اړ تياو د پوره کولوله‌پاره لەستونزو سره مخامخ نه‌شي ، مونږ کوښښ وکړ چی له‌ځينو نړيوالو خيريه موسسو سره تماس ونيسو او له هغوی څخه مرسته وغواړو او په دې توگه‌مونږ وکړای شول چی ځينی خيريه‌موسسی قانع کړو بالاخره مونږ په دې بريالی شوو چی د خپلو خلکو له پاره ۳۶» پايی واټر پمپونه، يوه عراده تراکتور کيمياوی سره او د تخم غنم تر لاسه کړو ، چی همدا اوس مونږ د کرنی د څانگی په نامه په خپله سيمه کی منظم تشکيل‌او فنی کسان د کرهنی د چارو په فعاليت بوخت دي ، سر- ږيره پردي کله نا کله‌ځينی نورضروري مواد هم د مرستی په توگه ياله خپل تنظيم او يا له خيريه مو سسو څخه تر لاسه کوو او خپلو خلکو ته يی رسوو ، نو له دې پلوه الحمدالله زمونږ خلک چندان له ستونزو سره نه‌دي مخامخ . ستاسو د پوښتنی د دوهم جز په ځواب کی بايد وويل شی چي مونږ آن‌دجهاد له پيل څخه د خپلو ماشومانو ښوونی‌او روزنی ته متوجه وو ، خو شرايط لامنا سب شوي نه وو ترڅوچه(۱۳۶۱)کال په پيل کی مونږ و کړای شول د خپلی سيمی د علماو ، مشرانو اوتعليم يافته کسانو په مرسته‌دري مدرسی او«۱۲» ښوونځی فعال کړو چی همدا اوس «۱۲۰» تنه طالب‌العلمان په عالی زده کړه او «۹۵۰» تنه هلکان په ښونځيو کی په لوست بوخت دی چی د علماو او ښوونکو شمير يی «٤١» تنو ته رسيږي ، د دوی درسي مواد څه نا څه زمونږ د تنظيم د افغانستان د ملی اسلامي - محاذ د تعليم او تر بيی د ريا ست له خوا او څه نا څه ئی د سيمی د علمائی کرامو او تعليم يافته خلکو له خوا تهيه کيږي . نو زه په دا د سره ويلای شم چي الحمد لله زمونږ د خلکو ستونزې د گران هيوا د د نورو جهادي سيمو په انډول څه ناڅه کمی دي .

ذ دې له پاره چی زمونږ مجاهد هيواد وال د خپل يو تن قهر مان قوماندان له جها دي هلو ځلو سره آشنا شي نو مي د محترم قاری صاحب د جهادي فعاليتونو او په وسله وال سنگر کی له د ښمن سره د مخا مخ جگړو په باب تري وپوښتل ؛ ده په ځواب کی وويل :

تر اوسه پوري زمونږ د مجاهدينو او د د ښمن د قواو تر منځ په تيت او پر کو جگړو سر ږيره څه نا څه يو ديرش عمده عمليات اجرا شوي دي چی په دغو ټولو عملياتو کی ما او زما مجاهدينو برخه درلوده .

د دې له پا ره چی د ټو لو عملياتو په با ب معلو مات بيا نو ل موضوع او ږ دوي نو د دې ټولو عملياتو له جملی څخه زمونږ وروستي عمليات د مثال په ډول په دې توگه بيانولای شم :

د ۱۳۶۶ کال د عقرب په ١٤ نيټه د روسانو يو زيات شمير عسکر له يونټ څخه د يارک کلي ته راغلل ، غوښتل ئی د مجاهدينو د هغه گروپ په مسير کی کمين ونيسي چی په علي خيلو کی د يره وو ، د سهار د لمانځه په وخت چی

